


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کـتـاب نـوم:تصوف او عرفان

ليکوال :: علامه محمد معين الدين أبوالفضل

خـــپـرونـکـــی: بېنوا انټرنېټ پاڼه

د چاپ ټول حقوق له ليکوال او بېنوا پاڼې سره خوندي دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله وکفی واالصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی امابعدمحترمومسلمانانوورونږولکه څرنګه چی تاسی وینئ چی پراسلام اومسلمانانوباندی له هره طرفه دانکاراواعتراض لاری په موجوده دورکښی راخلاصی سویدی په همدې ابتلا کښی علم طریقت اوتصوف کو م چی داسلام اوداسلامی علوومغزدئ اوهمدارنګه اولیاءالله هم راشکیل سویدی کوم چی الله ته دورتیرواومقربوبندګانوله جملې څخه ځلرمه برخه ده چی نبیان صدیقان شهداءاوصالحین دی کوم چی الله پاک ددوئ په باره کښی فرمایلی دی ،فاولئک مع الذین انعم الله علیهم من النبیین والصدیقین والشهداء والصالحین، ځکه چی له یوې خواتصوف ،طریقت اواولیاءالله تش په نامه پیران اومریدان کوم چی په باطن کښی ټګان اودطریقت اوداولیاؤدښمنان دی بدنامه وی لکه چی دهمدغسی ټګانوپه باره کښی مادابیت ویلی دی،

اذکاردلطائفوکه ظاهره بل ته ښه یې،په ګیډه کښی سری خفی اخفی وهی په بډه،اوله بلی خوادڅلورومذهبودښمنان وهابیان وغیره پرطریقت اوپرولیانودخدای پاک کوم چی مولانا رومی ددوئ په شان کښی فرمایې،

اولیا راهست قدرت ازاله، تیرجسته بازګرداندزراه،

قسم قسم طعنونه وایې اوله بیحیایې څخه ډکی خبری دتصوف اودولیانوپه شان کښی کوی موږیوځل په خوادبینواپه ویب سائټ کښی دتصوف اوعرفان لړۍ پیل کړی وه خوله بده مرغه څه عوارض ووچی دالړۍ پاته سوه اوبیامحترم خالد هادی حیدری صاحب دمتدینومسلمانانوپه خواهش موږته داخبره عرض کړه چی دالړۍ بیرته پیل کړونودادۍ ستاسی مسلمانانوورونږودنفع په خاطرمودالړۍ پیل کړه چی ان شاءالله په دې سلسله کښی به داسی موادووینۍ چی نه به سترګولیدلی اونه به غوږواوریدلی اونه به چاپه خوب کښی لیدلی وی خواول دتصوف داهدافوپه اړه معلومات درکوم ځکه چی دیوشی دحسن اودقبح دپیژندلویوه لاردهغه شی دهدف پیژندل دی،محترمومسلمانوپه اجمالی ډول چی درته ووایم نودتصوف اوعرفان اودطریقت هدف دانسان تخلیه اوتحلیه ده یعنی دانسان وجوداوباطن له بدواخلاقوڅخه لکه حسد،بغض،بخل،ریا،کبر،عجب وغیره څخه پاکول اودارنګه دانسان وجوداوباطن په ښواخلاقوسره لکه اخلاص،تواضع،حسن نیت ،له خالق اومخلوق سره صحیح تعلق ،وغیره ښائسته کول دی اوپه تفصیلی ډول ئې دنومونی په توګه ځینی مهم هدفونه درته ذکرکوم.

د تصوف اوعرفان له تفصیلی اهدافو څخه لومړئ هدف:

محترمو ورونږو! د طریقت او د تصوف له تحلیلي او مفصلو اهدافو څخه ړومبنۍ هدف دادئ چي د انسان د زړه اصلاح وکړي . نو دلته په کارده چي اول په دې ځانونه خبر کړو چي د انسان د زړه اصلاح د شریعت له نظره په څونه اندازه کښې مهم او ضروري کار دئ . د دې لپاره چي د تصوف او طریقت د شان عظمت او فیض او برکت ښه راته واضح سي ،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترمووروڼو داسلام پیغمبر په یوه مبارک حدیث کښي چي امام بخاري ئې د صحیح بخاري په کتاب الایمان کښي ، او امام مسلم ئې په باب� أخذالحلال وترک الشبهات � کښي روایت کړیدئ ) فر مایلي دي : اَلا اِن في الجسدِ مُضغَة اِذَا صلحتْ صَلَحَ الجسد کُله و اِذا فسدت فسدَالجسد کله اَلَا و هي القلبُ . یعني خبردار اوسۍ په دې چي بې شکه په بدن کښي د انسان یوه ټوټه غوښه ده کله چي دا غوښه سمه سي نو ټول بدن سمیږي ، او که دا غوښه فاسده او خرابه سوه نو ټول بدن فاسد او خراب ګرځي خبردار ! دا ټوټه غوښه د انسان له زړه څخه عبارت ده . په دې مبارک حدیث کښي د اسلام پیغمبر د زړه په باب و انسانانو ته عموما ، او و مسلمانانو ته خصوصا دوه قسمه تعلیم ورکړئ دئ : اول دا تعلیم چي د انسان زړه هم سمیږي او هم خرابیږي . دوهم دا تعلیم چي د انسان نور ټول بدن او دارنګه د بدن ټول أعضاء په سموالي او په خرابوالي کي د انسان دزړه تابع دي ، که زړه سم وو نو ټول بدن به ئې سم وي ، او که زړه خراب وو نو ټول بدن به ئې خراب وي .

دارنګه په یوه بل مبارک حدیث کښي چي په مشکوة شریف کښي ئې ذکر راغلئ دئ داسلام پیغمبر فرمایلي دي : بې شکه دغه زړونه د انسانانو په دې ډول زنګ نیسي لکه څنګه چي أوسپینه � حدید� زنګ نیسي ، په اصحاب کرامو کښي یوه سړي له ده مبارک څخه پوښتنه وکړه چي ائ دخدائ رسوله ! دغه زړونه چي زنګن سي یعني د ګناهونو او رذیلو اخلاقو په وجه نو بیا به په کوم شي سره دغه زنګن زړونه بیرته صفا کیږی ؟ د اسلام پیغمبر په جواب کښي ورته وفرمایل : چي د مرګ په ډیره یادونه سره ، او په تلاوت دقران کریم سره.

دارنګه په یوه بل مبارک حدیث کښي چي په مشکوة شریف کښي ئې روایت سوئ دئ ، حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي : خبردار ! هرشي لره یو صفاکونکئ سته او د انسانانو د زړو صفاکوونکئ د الله �جل جلاله � ذکر دئ . همدا سبب دئ چي د طریقت په سلسلو کښي د� نقشبندیې � طریقې استاذان په اول نوبت کښي و مرید ته د قلبي ذکر وظیفه ورکوي ، مولانا �جلال الدین رومي رحمه الله � په مثنوي شریف کښي په دې ارتباط داسي فرمایلي دي :

آئینه کز زنگ و آلایش جدا است پر شعاعِ نورِ خورشیدِ خدا است

یعني دکوم انسان چي د زړه هنداره له زنګو څخه د بدو اخلاقو او اعمالو جلا او پاکه وي نو هغه به د الله �جل جلاله� له تجلیاتو او أنوارو څخه ډکه وي .

ومن الله التوفیق

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترمو ورونو دتصوف او عرفان په تیره برخه کي مونږ وتاسي ته دطریقت ړومبنۍ هدف چي عبارت دی له اصلاح څخه دزړه بیان کړ ، اوس د طریقت د دوهم هدف او غرض په بیان شروع کوو ۰

د طریقت دوهم هدف دادئ چي له انسان څخه په اعمالو کي دنیت خرابي لیري سي او انسان په ټولو اعمالو کي دښه نیت خاوند وګرځي په دي ډول چي انسان هر شرعي عبادت او عمل کوي نوپه هغه نیت سره یې وکړي کوم چي همدغه عبادت او عمل دهغه تقاضا کوي قدرمنووروڼولکه څنګه چي بزرګانودطریقت اوشریعت ذکرکړی دی چي طریقت دشریعت خادم دی په حاق دواقع اونفس الامرکښي همدغسي خبره ده څکه هرحکم چي شریعت صادرکړی وی نوتصوف اوطریقت په دي باره کښي زیاراپستلی اوباسي یي چي مسلمان دهغه حکم وداسي عملی کولوته چمتوکړی چي په اعلی درجه عملی کول وی،چي ددي یوه بیلګه په ړومبۍ برخه کښي دتصوف اوعرفان تیره سوه اودوهمه بیلګه یې داده په دي برخه کښي وتاسي ته ترتحقیق لاندی ده په خلاصه ډول بایدووایم چي شریعت پردي خبره باندی په اخیره درجه کښي تاکیداوټینګارکړیدی چي مسلمان چي هرشرعی عمل کوی نوضروربه په هغه کښي د ده نیت صحیح وی اوبا الفرض که یومسلمان یوشرعی عمل په فاسدنیت سره وکړی نوعمل یې باطل دی اوودته به ددغه فسادجزا هم ورکړه کیږی مطلب دشریعت له نظره په اعمالو کښي د نیت ښه والئ په اول قدم کښي ضروري ګڼل سویدئ ، او د عمل او عبادت ثواب او صحت الله جل جلاله پر نیت باندي موقوف ګرځولئ دئ ،لکه چي داسلام پیغمبر په یوه متفق علیه حدیث کښي فرمایلي دي ( انماالاعمال بالنیات وانمالکل امرء مانوی ) یعني بې شکه خاص دا خبره ده چي عملونه تر نیتو پوري تړلي دي ، او هرسړي لره به هغه شئ پلاس ورځي کوم چي ده یې نیت کړئ وي ۰ دغه مبارک حدیث په دي سبب د اسلام پیغمبر وخلګو ته وفرمایه چي یو نفر چي د«مهاجر ام قیس په نامه یاد سوئ دئ په مکه شریفه کښي ویوي ښځي ته چي په ام قیس سره مشهوره وه راغئ او ورته یې وویل چي له ما سره نکاح وکړه ! هغې ورته وویل : چي زه له مکي څخه ومدینې ته په هجرت روانه یم نو که ته هم هجرت راسره کوې نو بیا زه هم نکاح در سره کوم ، نوبیا دغه سړئ هم و مدینې ته په هجرت راغئ خو په دي نیت چي دغه ښځه لاس ته راولي ، نو کله چي د اسلام پیغمبر له دغه حاله څه خبر نو یې دغه مبارک حدیث وفرمایو ، په دي مبارک حدیث کښي دا مضمون هم راغلئ دئ چي نو دچاکه هجرت وخدائ او ورسول ته وو نو دخدائ او د رسول په نزد هم دده هجرت و خدائ او رسول ته بلل کیږي او هجرت یې مقبول دئ ، او د چا چي هجرت و دنیا ته وو چي حاصله یې کړي ، او یا یې و ښځي ته وو چي په نکا ح ئې کړي ، یعني په هجرت کښي یې نیت د دنیا یا د ښځي کړیوو نو دخدائ په نزد دده دغه هجرت وهغه شي ته بلل کیږي کوم چي ده یې نیت کړئ وي او په الهي در بار کښي کوم ارزښت او مقبولیت نه لري ۰

محترمو وروڼو ! څموږ د امام اعظم رحمه الله د مذهب مطابق کوم اعمال چي اعمال مقصوده بلل کیږي دهغو صحت او په هغو عملو سره ثواب ګڼل دواړه پر صحیح نیت باندی موقوف دي ۰ اعمال مقصوده لکه لمونځ ، روژه ، زکات ، حج ۰ او کوم عملونه چي له مقصوده عملو څخه نه وي لکه اودس ، نو دهغوئ صحت پر نیت باندي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موقوف نه دئ ، او ثواب حاصلول د هغو عملو په ذريعه پر نيت باندی موقوف دئ ۰او په يوه عمل کي چي د ډيرو شيانو نيت سړئ وکړي نو د هر نيت په بدل کي ثواب ورکيږي ، د مثال په ډول يو سړئ ومسجد ته ځي نو په دغه تگ کښي د جماعت د لمانځه نيت وکړي او دارنگه د مسلمانانو ورونو دملاقات نيت وکړي ، اود مسلمانانو کليوالو د جوړ او ناجوړ د پو ښتني نيت وکړي ، او دارنگه نور ښه نيتونه وکوي نو د دغو ټولو نيتو اجر او ثواب الله تعالی ورکوي ، او که يواځي د جماعت د لمانځه نيت وکوي نو بيا يواځي د جماعت د لمانځه د نيت ثواب ور کول کيږي ۰ په هر حال په طريقت کښي د طريقت د استاذانو دوهم هدف دادئ چي مسلمانان له فاسدو ، او خرابو نيتو څخه وژغورل سي او په ټولو طاعتو ، عبادتو ، او عملو کښي د صفا او ښه پاک نيت خاوندان وگرځي ۰ د اسلام پيغمبر فرمايلي دي : نيت المؤمن خير من عمله يعني د مومن او مسلمان سړي نيت دده تر عمل بهتر دئ ۰ په شريعت کښي دا مسئله هم سته چي که يو بې وسه مفلس سړئ په زړه کښي په ټينگه سره داسي نيت او اراده راوگرځوي چي کاشکي ما يو ارب روپۍ درلودلاۍ او دغه ټولي مي دخدائ د رضا لپاره صرف کړي واۍ او دخدائ ج په نزد دئ صادق وي په دغه نيت کښي نو الله پاک وده ته د هغومرو روپو چي دخدائ جل جلا له لپاره صرفي کړاۍ سي ثواب ورکوي ۰ محترمو د تصوف اوعرفان او طريقت دوهم هدف دادی چی دحسن نيت په داسي شرافت سره انسان شرافت مند وگرځوي کوم چی شريعت وهغه ته ددونه زيات تاکيدپه نظرسره کتلی دی۰

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترمو ورونو دتصوف اوطريقت له عمده اومهمواهدافوڅخه دريم هدف دادی چی سالک اومريدودي ته هڅه وی چی په شپږقسمه مرابطومشرف سی اوپه عمل کښی ئې راولی اوکله چی يوانسان دغه شپږقسمه مرابطې عملی کړی نودی داالله په دغه حکم سره ،چی ياايها الذين آمنوا ادخلوافی السلم کافة،مل کونکی وګرځېدئ اوکامل مومن اومسلمان ورڅخه جو ړسو دغه شپږ قسمه د مرابطې کومی چی بيان بې په راتلونکو برخوکښی ان شاء الله درته راسی په دې خاطر د طريقت مشائخو �رحمهم الله � وضع کړي دي چي په مريدانو کښي داالله پا ک ويره اوله الله څخه ډارددوئ په زړونووکښی دغريزې قوې په شان راسخ وګرځی اودارنګه ئې دددغومرابطوپه وضع کښی دامقصددی چی په سبب دعملی کولوددغومرابطوپه سالکينوکښی د دې ملکه ، او قوه پيدا سي چي بيا دوی و کولاځ سي چي خپل ځانونه او نفسونه له �هوا� يعني له نفسي ناروا خواهشاتو څخه په سهولت او اساني سره وساتي ،ځکه لکه څرنګه چي له الله (جل جلاله ) څخه ويره په انسان کښيد دغو شپږ قسمه مرابطوپه وجه قوی کيږی اوپيداکيږی ، دارنګه دغه شپږ قسمه د مرابطې د عملي کيدو په صورت کښي انسان په ترک د هوا ، او په منع کولو د خپل ځان د نفس د ناروا خواهشاتو څخه موصوف ګرځوي ، او دغه دواړه صفتونه يعني خوف له الله څخه او منع دنفس له هوا څخه ــ هغه عظيم بنيادي صفتونه دي چي الله پاک مَدار د دخول د جنت ګرځولي دي ، لکه الله (جل جلاله ) چي فرمايلي دي : {و أما مَن خاف مَقام ربه ونهى النفس عن الهوى ، فإن الجنة هي المأوى } يعني هر څه چي هغه څوک دی چي ويريدلئ وي ـــ يعني په دنيا کښي ـــ له دريدو دده په حشرګاه کي لپاره د حساب د � رَب �دده ، او منع کړئ يې وي ده نفس خپل له ناروا خواهش څخه نو بې شکه جنت خاص هماجنت ځائ د ورتللو دده دئ .

محترمو ورونو ! � هوا � په لغت او زبان د عربو کښي و سقوط يعني لويدو ته ويل کيږي ، او په شريعت کښي هوا ــ ميلان ته د نفس ويل کيږي و يوه ناروا او نامناسبه کار ته ، و دغه ميلان د نفس ته ځکه هوا ويله کيږي چي دغه راز دنفس ميلان چي يو څوک عملي کوي نو دغه څوک په دنيا کښي له لوړ مقام څخه و ډير کښته او خسيس مقام ته رالويږي ، او په آخرت کښي به د دوږخ په کندو کښي لويږي . حضرت ابو بکر ورّاق �رحمه الله � فر مايلي دي : چي په د نيا کښي تر هوا خبيث شئ الله (جل جلاله ) نه دئ پيدا کړئ . د اسلام پيغمبر په يوه مبارک حديث کښي ـــ چي بيهقي يې روايت کړئ دئ ـــ فرمايلي دي : چي درې خويونه هلاکونکي دي ، يعني که په انسان کښي موجود سي نو انسان په دنيا او آخرت کي برباده وي ، د اسلام پيغمبر اول له دغو درو خويو څخه دا خوئ ذکرکړئ دئ چي انسان د نفس د هوا تابعداري کوي . د طريقت علماوو ترک د هوا ، او نفس را منع کول له تر سره کولوڅخه د ناوړو خواهشاتودنفس درې قسمه کړئ دی : اول قسم دادئ چي انسان له هغو عقيدو څخه ځان و ساتي چي په ښکاره ډول له قرآني اياتو څخه ، او له نبوي أحاديثو ، او إجماع څخه مخالف وي ، دا هغه قسم ترک د هوا او خواهش نفساني دئ چي ددې په وجه انسان �سُني � بلل کيږي ، او که په انسان کښي دغه صفت مو جود نه وي نو بيا دغه انسان يا شيعه ، يا وهابي ، يا سلفي ، اويا بل قسم مبتدِع بلل کيږي او سني نه ورته ويل کيږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. او دوهم قسم ترک د هوا دادئ چي انسان په دې ډول وي چي دغه درې صفته په ده کښي موجود وي اول دا صفت په ده کښي موجود وي چي کله دده په زړه کښي اندېښنه د يوې گناه پيداسي نو في الحاله يې د خدائ تعالى حساب ورپياد سي ، او له دغي گناه څخه منع و کړي . دوهم دا صفت په ده کښي موجود وي چي هر هغه شئ چي دهغه په روا والي کښي و ده ته شک او شبهه پيدا سي نو هغه کار پرېږدي ، چي د نبي عليه السلام په مبارکو حديثو کښي و دغه ته ترک د مشتبهاتو ويل سوئ دئ . دريم داصفت پکښي موجود وي چي له هر هغه مباح او روا کار څخه هم ځان ساتي چي له سرې سره دا اندېښنه پيدا کيږي چي که دغه کار وکړم نو خدائ ناخواسته د دې کار په وجه به په يوه نارواکار اخته سم او اعلى قسم د ترک د هوا دادئ چي له انسان څخه نفساني هوا پر مخ ليري سي ، په دې ډول چي دده او دده د نفس مطلب او مقصد هغه شئ و گرځي کوم چي الله پاک په راضي کيږي ، او الله تعالى يې له ده څخه غواړي ، لپاره د حاصلولو د دغه مقام صوفيه رحمهم الله� د � لا إله الا الله � ذکر په کثرت سره تکراره وي ، ا و دغه مبارکه کلمه په شباروز کښي په زرهاوو واره وايې ، سره له دې چي د ويلو په وخت کښي د کلمې په معنى کښي د � لا مقصود الا الله � ملاحظه په زړو کښي کوي . (مجدد الف ثاني شيخ أحمد سرهندي رحمه الله )فرمايلي دي : إن العبدَ مادام في هوى نفسه فهو عبد نفسه مطيع الشيطان { يعني بې شکه يو بنده چي تر څو پوري د نفس په هوا کښي را گير وي نو دئ بنده د خپل نفس دئ ، او فرمانبرداره د شيطان دئ ، او دغه ډېر لوئ دولت يعني ـــ چي ليري کول د هوى د نفس دي له ځان څخه په کامل ډول ـــ د طريقت له مخي هلته و انسان ته حاصليږي چي انسان په ولايت خالصه او په فنا اکمله او په بقا اکمله سره مشرف وگرځي ،اوکله چي سالک او صوفي په دغه مقام سره مشرف سي ، نو دغه خصلتونه الله پاک دده نصيب کوي : اول رضا په قضا د الله (جل جلاله ) ، دوهم دا چي کوم تکليف او مشقت وده ته ورسيږي نو دده په سينه کښي هيڅ تکليف او تنگي نه پيدا کيږي ،اوکه ددغه مصيبت دليري کيدو لپاره دعا کوي نو له دې وجهي يې نه کوي چي له دې مصيبت څخه دئ تکليف محسوسوي ، بلکه له دې وجهي يې کوي چي الله پاک د دعا په کولو او د عافيت په غوښتلو سره و بندگانو ته امر کړئ دئ ، دريم دا چي په دغه مرتبه کښي صوفي په اختيار سره د الله تعالى بنده گرځي لکه څنگه چي دئ بنده دئ دالله پاک په تسخير او په استرار سره ، څلرم داچي په دغه وخت کښي شيطان دده د بې لاري کولو لپاره هيڅ لار نه سي پيدا کولائ ، مگر که په نادر او په شاذ ډول سره يوه لار ورته پيدا کړي ، پنځم ٥ دا چي په دغه وخت ښي صوفي د الله پا ک د دغه قول مصداق گرځي چي : ( إن عبادي ليس لک عليهم سلطان و کفى بربک وکيلا ] . شپږم دطريقت له مخي په دغه وخت کښي وده ته�رَجُل �يعني سړئ ويل کيږي ، گواکي تر دې له مخه دغه سړئ ماشوم دئ ، لکه چي ( شيخ اجل مولانا يعقوب چرخي رحمه الله ) فرمايلي دي : چي بې شکه هيڅ يو سړئ د سړو و درجې ته نه رسيږي تر څو چي د نفس له هوى څخه خلاص نه سي .، اوم ٧ داچي په دغه وخت کښي بنده حقيقي مؤمن گرځي ، لکه چي د اسلام پيغمبر په يوه حديث کښي ـــــ چي امام بَغوي ئې په شرح السنة کښي روايت کړيدئ ،ا و امام نووي په خپل اربعين کښي ويلي دي چي دا صحيح حديث

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ ـــــ فرمايلي دي : لا يؤمن أحدكم حتى يكونُ هواه تَبَعا لِما جئتُ به � يعني نه سي گرځيدلائ حقيقي مؤمن هيڅ يو له تاسي تر هغه پوري چي سي خواهش د نفس دده تابع دهغه چي راتگ کړيدئ ما ، يعني د خدائ له لوري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترمووروڼو ! په دریمه برخه کښې موږدشپږقسمه مرابطوذکرکړی ؤاوس ئې تفصیل درته کوم خوپه دې برخه کښې دمرابطې داول قسم کوم چې مشارطه ورته ویله کیږی تفصیل کوم خوړومبې ودؤوخبروته فهم وکړی، اوله خبرداده چي دطریقت اودتصوف چي کوم هدفونه دي نوپه هغوی کښي ترټولو ډیرمهم هدف دغه شپږ قسمه مرابطې دي

چي تفصیل به يې درته راسي ، او په کار دئ چي( ام الأهداف ) يعني د طريقت دټولو مقاصدو او أهدافو مور ورته وويله سي ، هر مسلمان ته ډير ضروري دئ چي ددغو مرابطو تفصيل په ډير غور سره مطالعه کړي ، او په ياد يې کړي

.دوهمه خبرداده چي دطريقت علماؤ ددغومرابطو اخذ له دې قوله د الله (جل جلاله ) څخه کړئ دئ چي الله پاک فرمايلي دي : {ياأيهاالذين آمنوا إصبروا و صابروا ورابطوا} يعني اې هغه کسانو ! چي ايمان يې ر اوړئ دئ صبر کوی، يعني پر طاعت او عبادت باندي ، او له ګناه او ناروا کارو څخه ، او پر سختيو او مصيبتو باندي ، او غلبه کوی په صبرکولو کښي پر مقابل طرف خپل چي له دين څخه دباندي خلګ دي ، يعني پر نورو خلګو بايد تاسي هميشه په صبر کولو کښي پر هر قسم سختيو باندي غالبه ياست ، او مُرابطه کوی . ددغه مبارک ايت په اخير کښي د� رابطو� لفظ له (مرابطة ) څخه جوړ دئ د طريقت علماؤ له دغي اخيري کلمې څخه دغه شپږقسمه مرابطې رايستلی دی امام غزالی د ورابطوا دجملې تفسيرپه دې ډول کړيدی، فرابطواانفسهم اولاً بالمشارطة ثم بالمراقبة ثم بالمحاسبة ثم بالمعاقبة ثم بالمجاهدة ثم بالمعاتبة،فكانت لهم في المرابطة ست مقامات انتهى، محترمووروڼودغه شپږقسمه مرابطې په دې ترتيب دی ، اول مشارطه ، دوهم مراقبه ، دريم محاسبه ، ۴ معاقبه ، پنځم مجاهده ، او شپږم معاتبه ، چي تفصيل او بيان يې په دې ډول دئ : اول دمشارَطې تفصيل :

محترمو وروڼو ! مَشَارَطَه ودې ته ويله کيږي چي هر وخت چي مسلمان سهار راکښيني او د سهار له لمانځه څخه فارغ سي نو ده ته په کار دئ چي يو ساعت يعني يو لږ وخت خپل زړه له نورو فکرو څخه فارغ کړي ، او وخپل نفس ته دا ډول ووايي : چي اې ځما نفسه دآخرت لپاره دلته په دنيا کښي ځما سرمايه فقط اوفقط دغه ځما عمر دئ که لږ وو او که ډير ، او هر وخت که ځما دغه عمر پاﺋ ته ور سيدئ نو ځما دآخرت راس المال او سرمايه ختمه سوه ، او نور بيا زه د آخرت لپاره يو داسي عمل نه سم کولاﺉ چي بيا د هغه ګټه تر لاسه کړم ،او دا اوس نوې ورځ ده چي الله پاک ځما اجل ځنډه ولړ دئ ، او زه يې د دغي ورځي په سهارکښي ژوندئ راپورته کړم ، که په شپه کښي الله پاک ځما روح قبض کړيوائ نو بيا به مي دغه ورځ له لاسه وتلې وائ ، نو اې ځما نفسه ! ، او اې ځما سترګو اوغوږو ! ، او اې ځما د بدن ټولو أعضاوو ! ، اواې ځماعقله او ځما حواسو او د بدن ټولو قواوو ټول خيال کوی چي دغه ورځ درڅخه ضايع نه سي . په خلاصه ډول مسلمان بايد هر سهار له لمانځه څخه وروسته له خپل ځان سره دغه سوچ ،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او فکر باید پوخ کړي چي دغه ورځ چي ماته بیا خدایٔ پاک �عزوجل � مهلت دژوند پکښي راکړ باید عبث يې تیره نه کړم ، او ځما دبدن له هري عضوي څخه چي کوم دخیر او د نیکۍ کار صادریدلاۍ سي هغه کار باید وکړم ، او چي کوم کار د بدۍ ورڅخه صادریدلاۍ سي له هغه څخه باید ځان وساتم ، د مثال په ډول دا فکر له ځانه سره ووهي چي دغه خوله او ژبه چي ماته الله راکړیده ، او ددې صلاحیت هم الله پاک پکښي ایښیٔ دیٔ چي خیر او نیکي ورڅخه صادره سي لکه دقرآن کریم تلاوت ، د الله جل جلاله ذکر ، ومسلمانانو ته د سمي لاري ښوونه ، اوداسي نور . اودا صلاحیت يې هم پکښي ایښیٔ دیٔ چي بد ورڅخه صادر سي لکه غیبت ، درواغ ، بُهتان ، دنمیمت او شیطانت خبري ، د دروغو شاهدي ، و خلګو ته بد رد ویل اوداسي نور ، نوزه باید خپله دغه خوله او ژبه په دغه ډوله ورځ کښي ـــــ چي ځما د دې شیرین عُمر یوه برخه ده ، او دا معلومه هم نه ده چي دا به ځما د عمر اخیري ورځ وي او که به مي عمر یو څه لاپاته وي ـــ دخیر په کارو کښي کار کړم ، او له بدو کارو څخه يې وساتم .

په یوه حدیث شریف کښي ـــ چي صا حب دمشکوة او نورو يې روایت کړیدیٔ ـــــ راغلي دي : چي هر سهار دانسان د بدن ټول اندامونه د انسان وژبي ته د خدایٔ روی نیسي چي خیال کوه که ته سمه چلیدلي نو موږ ټول سم چلیږو ، اوکه ته چپه و چلیدلې نو موږ دي ټول بې لاري کړلو . محترمو ورونړو! ودغه ته مشارطه ویله کیږي ، او دغه د مشارطې بیان دیٔ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترمو مسلمانانودتصوف اوعرفان په تیره برخه کښی ماتاسی ته دمرابطې داول قسم چی مشارطه ورته ویل کیږی بیان وکړاوس په دې برخه کښی دمرابطې د دوهم قسم چی مراقبه ورته ویل کیږی بیان درته کوم محترمواولیا ء کرام اودطریقت استاذان دمریدانو اودمسلمانانوداصلاح دپاره ودوئ ته له مشارطې څخه وروسته دوهم تعلیم دمراقبې کوي ،مراقبه چی په اسانه طریقه زه وتاسی ته دروښیم نوباید و وایم چی دمشارطې کوم چی دمرابطې اول قسم دی اودمراقبې کوم چی دمرابطې دوهم قسم دی مثال داسی دی لکه یو امیر بادشاه اوحکیم چی یوچاته یوه وظیفه ورسپاري نوورته و وایی چی گوره دغه وظیفه به پدغه طریقه ترسره کوې اوله دغې طریقې څخه به مخالفت نه کوې دادمشارطې مثال دی کومه چی ودېته ویله کیږي چی مسلمان دسهار له لمانځه څخه وروسته یوڅه وخت تنهاکښینی اوخپل ځان او وخپلی خولې ته اودبدن وټولو اندامونه داو وایی چی ای ځما ځانه ای ځما دبدن اعضاووداچی نن زه سهار بیاژوندی راکښینستم داپرماباندی دالله پاک لوی فضل وسو چی ځماژوند ئی رادراز کړاود دې موقع ئی راکړه چی داخرت دپاره خواری وکاړم نوباید پدغه ورځ کښی دخیرکارونه وکړم اودبدو کاروڅخه ځان وساتم اودمراقبې مثال دادی چی یوحکیم ویوچاته یو وظیفه ور وسپاری اوهدایت اوتوصیه ورته وکړی وروسته بیا دشالخوا پسی گوري چی ایا دغه ځما وظیفه دارځما دهدایت مطابق اجرا آ ت کوي اوکې نکوي ځکه که امیر دشالخوا پخپلو وظیفه دارانوپسی گوري نوکه ئی بالفرض وغله ته وظیفه ورسپارلې وي نودهغه غله څخه شریف اوامین سړئ جوړېږي اوکه دشا لخوا فهم اوفکرنه پسی کوي نوله بزرگو وظیفه دارانوڅخه به اخیرغله جوړسی دارنگه کله چی هرانسان هرسهار وخپل ځان اونفس ته دخیرتوصیه وکړي نوله دې څخه وروسته چی بیا په عمل اوکارشروع وکړي نوباید په خپل ځان اودخپل ځان په ټولواعضاوو اواندامونوپسی گوري چی ایا ځما دسهارني نصیحت اودستورمطابق کار روان دی اوکه نه دی ځکه هرانسان چی وخپل نفس ته متوجه نه وي اودخپل نفس مراقب نه وي اود دې خیال اوسوچ نه وي ورسره چی الله جل جلاله ځما هرڅه وینی اوالله پاک وماته اوځما وهرڅه ته حاضراوناظر دی نوبیا د ده نفس طغیان سرکښی اوفسادکوي حاصل دادی چی مراقبه له دووشیانوڅخه عبارت ده اول شئ دادی چی انسان وخپل ځان ته متوجه وي چی کوم یونالایقه کار ورڅخه و نه سی اویا یولایق کارورڅخه پاته نه سی البته دکسلت اودسستۍ اودغفلت اودبې غورۍپه وجه اودوهم شئ دادی چی انسان په هرکارکښی ودېته متوجه وي چی الله جل جلاله ماوینی که زه ښه کار کوم اوکه بد کار کوم الله جل جلاله وماته حاضر اوناظردی دقران کریم دایاتو اودنبی علیه السلام دحدیثواودارنگه د دین دبزرگانو داقوالو له مخی دمسلمان دپاره مراقبه یوسترضروری عمل دی ،

من ارادالاستقصاء فعلیه بالاحیا ء

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترمو ورونو ! دمرابطې دريم قسم �محاسبه بعدالعمل �ده يعني له خپله نفسه سره حساب کول وروسته له عمل اوکارڅخه ،دمحاسبې تحليل اوبيان کنبي ددوو(٢) شيانو تفصيل درته کوم اول دمحاسبې د حقيقت اودمعنی تفصيل دوهم دمحاسبې دفضيلت اودشرعي ارزښت تفصيل .

محترمو ورونو! لکه څرنگه چي دمشارطې په بحث کي داخبره ذکر سوه چه هرمسلمان ته پکارده چه بايد دئ هرسهاردورځي په سرکښي بايدداسي وخت ولري چه وخپل نفس ته اوو خپل ځان ته دخير تو صيه وکړي ،دارنگه وهر مسلمان ته داهم پکار ده چه هره ورځ چه تيره شي نو دورځي په اخير کښي بايد داسي وقت ولري چه په هغه وقت دئ له ځانه سره ددې حساب وکړي چه په دغه ورځ کښي چه تيره سول ما کوم کوم نيک کارونه وکړل، او په څه طريقه مي وکړل . اياپه دغه ورځ کي خو به له ما څخه داالله په بندگي کښي کوم تقصير له ما څخه نه وي سوي ،اودارنگه په دې کښي فکر ووهي چه په دې تيره ورځ کښي خو به له ماڅخه کومه گناه نه وي صادره سوې . بيا که چيري له خپله نفسه سره په دغه محاسبه کښي کوم د يني نقصان په نظر نه ورغئ نوبايدپه زړه کښي خوشحاله شي ،اوکه يې په کوم نقصان او تقصير په عبادت کښي دخدائ علم راغي نوبايد پريشانه سي اوتوبه گار سي اودهغه نقصان جبيره وکړي ودغه ته محاسبه بعد العمل ويله کيږي.

دامحاسبه داسي مثال لري لکه يو تاجرچه له خپلو شريکانو سره په کال کي او يا په مياشت کښي حساب کوي لپاره ددې چه د تيرکال دتجارت گټه اوتاوان معلوم کړي . دمحاسبی فضيلت او شرعې اهميت :محترموورونو! له خپل نفسه سره حساب کول له اسلا مي اعمالو څخه يو بل ډيرمهم اوضروري عمل دئ الله پاک فرمايلې دي : (ياايهاالذين امنوااتقوالله ولتنظرنفس ماقدمت لغد) يعني ائ هغو کسانو چي ايمان يې راوړئ دئ وويريږی له الله (جل جلاله ) څخه ،او ودي گوري هرنفس و دې ته چي څه مخکي ليږلي دي ده لپاره د سبا ،يعني هر نفس دي په دې کښي سوچ او فکر کوي چي ايا د قيامت د ورځي لپاره ما کوم څه کړيدي او که مي نه دي کړي ،اوکه مي کړيوي نو ايا داسي څه مي کړي دي چي د هغه څه په سبب الله (جل جلاله ) راڅخه راضي سي ،اوجنت مي نصيب سي ،او دآخرت له عذابو څخه خلاص سم . او که مي پرعکس او خلاف ددې نورڅه کړي دي . په دغه مبارک آيت کښي الله پاک په دغه قول کښي چي �ولتنظر نفس ما قدمت لغد�و همدغي� محاسبې بعد العمل � ته اشاره فرمايلې ده ،اوبندگان يې په دې سره امر کړيدي چي دوی هروخت بايد له خپله نفسه سره حساب کونکي وي . حضرت عمر �رضي الله عنه � فرمايلي دي : (حاسبوا انفسکم قبل ان تحاسبوا، وزِنوهاقبل أن تُوزَنوا) يعني حساب کوی ! له نفسو خپلو سره له مخه تر دې چي حساب درسره کرکيږي له تاسي سره ــــيعني دقيامت په ورځ ـــ او تلی نفسونه خپل له مخه تر دې چي تلل کيږی تاسي ـ يعني د قيامت په ورځ ـ . همدارنگه روايت دئ چي حضرت عمر به هره شپه خپلي دواړي پښي په � دُره � وهلې ،او و خپل نفس ته به يې ويل چي : کوم څه دي په نن ورځ کښي د آخرت لپاره وکړل ؟ ؟ . همدارنگه حضرت مَيمُون بن مِهران فرمايلي دي چي : هيڅ يو بنده له متقيانو څخه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه سي شمیرل کیدلائ ،ترهغه پوري چي دَئ له خپل نفس سره داسي محاسبه عادت و نه ګرځوي چي هغه سخته وي تر محاسبې د یوه شریک له بل شریک سره چي په تجارت کښي ورسره شریک وي .

هم دارنګه روایت دئ چي حضرت أبو طلحه �رضي الله عنه �په حال د لمانځه کښي په یوه مرغه مشغول سو ،یعني یو مرغه یې ولیدئ او په هغه کښي یې سوچ بندسو،اوپه دې وجه یې په حضور د زړه کښي خلل راغلئ . نو ده مبارک په بدل کښي ددغه کار یو باغ د الله (جل جلاله ) درضا لپاره صدقه کړ* .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مرابطې څلرم قسم:

محترمو وروڼو ! د مرابطې څلرم قسم �معاقبة النفس � ده ،یعني سرزنښت او عذاب ورکول و نفس خپل ته . تفصيل او توضيح ددغه څلرم قسم په دې ډول ده : چي کله انسان له خپله نفسه سره محاسبه وکړي ،او له نفسه سره د حساب کولو په نتيجه کښي انسان په دې اګاه سي چي ځما له نفس څخه فلانۍ ګناه ،یا فلانۍ تقصير په عبادت کښي د الله پاک صادر سویدئ ،نو په دغه وخت کښي و دغه انسان ته په کار ده چي و خپل نفس ته سرزنښت او سزا ورکړي . په دې ډول چي خپل نفس ملامت کړي ،او و دې ته يې متوجه کړي چي له سوي ګناه او تقصير څخه توبه ګار سي ،او ويو داسي نيک کار او نيک عمل ته مخ ورواړوي چي د تير تقصير جِبران په وسي .

د مثال په ډول يو سړي د نفس د شهوت اوخواهش په سبب حرام شئ وخوړئ ،نوپه دې صورت کښي ونفس ته دسرزنښت ورکولو يوه برخه داده چي دغه سړئ �لوږه� پر ځان باندي راولي،اوپه حلاله ډوډۍ هم ځان نه مړوي ،اوروژې و نيسي ،ددې لپاره چي ونفس ته ئې يو قسم سرزنښت ورکړسي،اوپه آينده کښ بيا د حرامي غذا خواهش څرګند نه کړي . دارنګه په لمانځه کښي له سړي څخه تقصير وسي ،نوددې په سبب بايد دَئ و خپل نفس ته په دې ډول سرزنښت ورکړي چي ډير نفلونه وکړي . اودارنګه يې په تهجد او نورو نفلي عباداتو مکلف کړي .محترمو ودغه ته �معاقبة النفس � ويله کيږي ،چي ښه وضاحت به ئې په ضمن کښي ددې درته راسي چي د الله (جل جلاله )د مخلصو بندګانو د معاقبة النفس يو څو � نمونې � درته ذکر کړم :

له� حضرت منصور بن ابراهيم � څخه روايت دئ چي دالله �عزوجل� دعبادت ګذاره بندګانو څخه يوه سړي له يوې ښځي سره خبري کولې ،نو کرار په کرار د خبرو پائ ودې ته راورسيدئ چي د ښځي پر �ورانه � باندي يې لاس کښيښودئ ، وروسته له دې يو دم پر دغه کار باندي سخت پښيمانه سو ،اوبيا يې خپل دغه لا س وأور ته ونيوئ ،ترهغه پوري يې نيولئ ؤ چي لاس ئې پر مخ و سوځيدئ او ختم سو . همدارنګه روايت دئ چي په بني اسرائلو کښي يو نفر ؤ چي ډيره زمانه يې په يوه عبادت ګاه کښي د الله (جل جلاله ) عبادت وکړ ،يوه ورځ له عبادت ګاه څخه راووتئ ،نوناڅاپه يې پر يوه ښځه باندي سترګي ولګيدلي ،اوفي الحاله له دې ښځي سره د ميني په آفت مبتلا سو ،اوبده اراده ئې په زړه کښي را وګرځيده ،اوددغي ښځي په نيت يې له عبادت ګاه څخه خپلي دواړي پښې رادباندي کړې .الله عزوجل �دده د تير عبادت په سبب پر ده باندي رحمت وکړ ،او دده په زړه کښي يې ويره پيدا کړه ،نوبيرته پښيمانه سو .بيا کله چي يې اراده وکړه چي خپلي پښې بيرته وعبادت ګاه ته داخلي کړي ،نو في الحاله يې دا فيصله وکړله چي ځما دغه پښې د الله پاک په نافرماني کښي له عبادت ګاه څخه خارجي سويوي ،نوځما دي په خدائ تعالی قسم وي چي ځما تر مرګه پوري زه دا خپلي پښې وعبادت ګاه ته داخلي نه کړم .بيا ئې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه خپلي پښې دباندي پړسېدې ،ترهغه پوري چي بارانو، واورو ، بادو اولمر دغه دواړي پښې ورڅخه پرې کړلې ،اوده پر دې باندي د الله �جل جلاله � شکر ادا کړ

په يوه بل روايت کښي راځي چي حضرت تميم داري �رضي الله عنه� يوه شپه بيده سو او د تهجد دلمانځه لپاره نه سو راببدار ،نوددې په بدل کښي يې وخپل نفس ته دا سرزنښت ورکړ چي يو کامل کال ئې د شپې خوب نه دئ کړئ ،او ټوله شپه به په عبادت کښي مشغول ؤ . محترموورونږو ! ودغه ته �معاقبة النفس� ويله کيږي .دغه کوم قولونه چي موږ يې ذکر وکړ د إحياء العلوم په څلرم جلد کښي مطالعه کړی.. !!!

## د مرابطې پنځم � ۵ � قسم:

محترمو ورونږو ! دمرابطې پنځم قسم � مجاهده � ده . مجاهده ودې ته ويله کيږي چي انسان پخپل ځان کښي د عبادت اود طاعت په کارو کښي کسلت او سستي محسوسه کړي ،او بې شوقي او بې ذوقي ورته پيداسي ،نودغه انسان وخپل نفس او ځان ته ادب ورکړي . په دې ډول چي له دې سره سره چي عبادت او طاعت ،باندي ثقيل او دروند وي ،خپل نفس په جبر سره و سختو او ګرانو عبادتو ته متوجه کړي ،ترڅو چي اساسي عبادتونه لکه فرض ،واجب ،سنت او مستحب . اوارنګه له ګناوو څخه اجتناب دده ونفس ته ډير اسانه کارونه معلوم سي ،اوکسلت او سستي د الله (جل جلاله )په بندګۍ کښي ورڅخه ليري سي .لکه چي د الله تعالی صالحو او نيکو بندګانو به دغه ډول کول ،چي يو څو نمونې يې د مراقبې په بحث کښي موږ درته ذکړلې ، اوځيني نمونې يې دلته درته ذکر کوم:

له حضرت عمر بن الخطاب �رضي الله عنه �څخه يوه ورځ دماځيګر د لمانځه جماعت تير سو ،نوددې په بدل کښي ده مبارک خپله ځمکه ـــ چي دوه سوه درهمه يې قيمت ووـــ داالله جل جلاله � د رضا لپاره صدقه کړې . همدارنګه دده مبارک له ځوئ عبدالله څخه چي به کله يو لمونځ د جماعت � فَوت �سو نو هغه شپه به ئې ټوله روڼه کړله ،اونفلونه بې کول . يوه شپه له ده مبارک څخه د ماښام لمونځ دونډي قدر ناوخته سو چي دوه ستوري په اسمان کښي ښکاره سول ،نو ددغه ځنډ او تأخير په بدل کښي ده مبارک دوه مري يونه �غلامان � ازاد کړل .

دلته که يو څوک داسي سوال وکړي چي که چيري ځما نفس موافقه نه راسره کوله چي زه مجاهده يعني تکليف کشي د ذکر سوي طريقې مطابق وکړم ،نو بيا به ددې علاج څه وي ؟ جواب ددې دادئ چي پ دې صورت کښي بايد دوه کاره وسي : اول داکار چي د هغو خلګو چي د الله �جل جلاله � په عبادت او طاعت کښي ئې عقل حيرانونکي تکليفوه او زحمتونه کَش کړيدي ، بيانونه او ددوی د زندګۍ حالات په کتابو کښي وکتل سي . دوهم داکار چي د الله (عزوجل ) د يوه داسي �بنده �سره صحبت و ملازمت وکړ سي چي هغه د الله پاک د عبادت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کارو کښې زيات تکليف کَش او زحمت کَش وي . عبدالواحد بن زيد فرمايلي دي : چي د چين په راهبانو کښې د يوه راهب و عبادت خانې ته راغلم ،او ور ږغ مي کړل چي ائ راهبه ! ده جواب رانه کړ ،بيا مي ورږغ کړل چي اې راهبه !! بياده جواب رانه کړ ، بيا ميورږغ کړل چي ائ راهبه !! ! نو دَئ پر ما باندي راښکاره سو او راته وې ويل چي : ائ سړيه زه خو راهب نه يم . ځکه چي په حقه سره راهب هغه څوک دئ چي له الله تعالی څخه ويرېږي ،اوصبر کوي پر هغه مصيبت او تکليف باندي چي دالله پاک له طرفه وده ته ور ورسيږي ، او راضي وي په قضا دالله(جل شانه ) او حمد او ثنا د الله (جل جلاله)وايي پر خاصو او لازمي نعمتو د الله پاک ،اوشکراداکوي خدائ لره پر عامو او شاملو نعمتو د الله پاک ،او تواضع او عاجزي کوي و عظمت او لويي ته د الله پاک ،او ذليل ګرځوي خپل ځان و عزت ته دالله پاک ،اوغاړه ئې اېښې وي و قدرت ته د الله پاک ،او فکر کوي په حساب اوپه عذاب کي دالله پاک ، نوپه دې سبب يې ټوله ورځ روژه وي اوټوله شپه و خدائ پاک ته په عبادت کښې ولاړ وي . دغه واقعي راهب دئ ! او هر څه چي زه يم نو زه يو خروړئ سپئ يم په دغه عبادت خانه کښې مي خپل ځان له خلګو څخه رابند کړئ دئ ،ددې لپاره چي خلګ راڅخه ونه داړل سي . عبدالواحد وايي چي : بيا ما له دغه راهب څخه پوښتنه وکړله چي دا اوس خلګ چي له خدائ (جل جلاله ) څخه يې په عمومي ډول تعلق شکيدلئ دئ ،نوله خدائ تعالی څخه د خلګو د تعلق ،دقطع کيدو او شکيدلو بنيادي سبب کو شئ دئ ؟؟ نو ده راته وويل چي : ائ ځما وروره ! خلګ له خدائ څخه بل هيڅ شئ نه پرې کوي ماسيوا له محبت څخه د دنيا ،او عاقل او هوښيار سړئ هغه دئ چي دنيا او د دنيا محبت يې له خپل زړه څخه ليري کړ ،اوله ګناوو څخه توبه ګار سو ،او پر هغه کارو باندي ئې مخ را وګرځاوئ چي د هغو کارو په سبب دَئ و خپل رَب ته ور نژدې کيږي . وحضرت داود طايي �رحمه الله � ته يو چا وويل چي : کاشکي دي دا خپله ږيره مبارکه ږمونځ کړې وائ ؟ ده مبارک ورته وفرمايل چي : ږيره ږمونځول خو دفارغ او خلاص سړي کار دئ ،زه دالله پاک له شغل څخه دوندي فراغت نه لرم چي ږيره ږمونځ کړم . لکه عبدالرحمن بابا چي فرمايلي دي :

رحمان هومره له خپل ياره اوزګار نه دئ چي غوږ ونيسي ناصح غوندي اوزګار ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترمووروڼو ! معاتبة النفس ودې ته ويل کيږي چې انسان هميشه و خپل ځان ته وَعظ او نصيحت کوي ،اودده تقصيرات او بې لاري ورته په ګوته کوي ،او له يوه طرفه دالله پاک نعمتونه او احسانونه په ياد وروليي ،او له بله طرفه د مرګ ،قبر او دآخرت و سختو او مشکلو حالاتو ته ـــ کوم چې د هر انسان ومخ ته راتلونکي دي ـــ متوجه کوي . ځکه نصيحت او د عبرت خبري کې و ځان ته څوک وکړي او که و بل ته (په دې شرط چې په اخلاص او صداقت سره وي ) حتما فائده او نفع رسوي . لکه الل (جل جلاله) چې فرمايلي دي : {وَذَكِّر فان الذكرى تَنفَعُ المؤمنين } يعني او پند ورکوه ائ رسوله ! و خلګو ته ،ځکه بې شکه پند او نصيحت نفع او ګټه رسوي و مؤمنانو ته . انسان ته په کار ده چې اول و خپل ځان ته نصيحت وکړي او بيا ونورو ته . وحضرت عيسى عليه السلام ) ته الله تعالى وحي وکړله چې ائ د مريمي ځويه و خپل ځان ته نصيحت وکړه ! بيا که ستا نفس دغه نصيحت قبول کړ نو بيا ونورو ته نصيحت کوه ،اوکه دې چيري داسي ونه کړل نوبيا له ما څخه حيا وکړه په دې کار چې ونورو ته نصيحت کوې . لکه حافظ شيرازي (رحمه الله ) چې فرمايلي دي :

واعظان که اين جلوه در محراب و منمبر مي کنند چون به خلوت آيند ايشان کار ديگر ميکنند

محترمومسلمانووروڼودتصوف اوعرفان په دې برخه کښې اودارنګه په راتلونکي برخه کښې دمشت نمونهء خرواړپه ډول

د اولياء کرامو ، د طريقت دواقعي مشائخو ، د الله (جل جلاله ) دمختلفو نومودتجلياتواو د ظهور په وجه د بيلابيلو مرتبواومقاماتوبيان درته کوم البته په ډيروروسته کښې به انشاء الله ودغه بيان ته بيرته دتفصيل اودتکميل دپاره راوګرځم:

محترمو وروڼو د تصوف او عرفان په مباحثو کښې دغه بحث ډير نايابه ، دقيق ،اوبې انتهاپه زړه پوري بحث دئ . محترمو ! د الله (جل جلاله) هر نوم د اولياءکرامو په زړو،اوبواطنو کښې ځانته ځانته تجلِي او ظهورلري . ديوه ولي پر زړه باندي د الله تعالى د يوه نوم ظهور او تجلى غالبه سوې وي ،او د بل ولي پر زړه باندي بيا د بل نوم د الله پاک تجلى اوظهور غالب سوې وي و هکذا . نو په دې وجه داولياء کرامو مرتبې سره جلا جلا وي ،اوپه دغه لحاظ يې نومونه هم سره مختلف وي ،چې تفصيل يې په دې ډول دئ :

د اولياوو په ډله کښې يو قسم داسي اولياء دي چې و هر يوه د دوی ته �عبدالله � ويل کيږي . عبدالله وهغه ولي ته ويل کيږي چې دده زړه د الله( جل جلاله ) د اسم ذات ـــ چې لفظ دالله دئ ـــ په تجلى او ظهور سره مشرف سوئ وي . اومشرف کيدل په تجلى او په ظهور ددغه مبارک نامه سره مستلزم دئ ،مشرف کيدلو لره د ولي په تجلى سره د ټولو نومونو د خدائ پاک . ځکه د الله پاک د ټولو نومونو معنى او مفهوم د� الله � د کلمې په مدلول او معنى کښې داخل دئ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داولیاوو په جمله کښي دغه قسم وَلي د مقام او شان په اعتبار تر ټولو ډېر پورته اولوړ دئ ،اودغه نوم په حقیقت کښي د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم ) نصیب ؤ ،همداوجه ده چي الله پاک په قرآن کریم کښي په دې آیت کښي چي : و أنه لمّا قامَ عبدُالله ) دَئ مبارک د عبدالله په نامه یاد کړئ دئ ،او همدارنګه دده په توسط دده په امت کښي چي کوم څوک د قطب و مقام ته رسیدلئ وي هغه هم د حقیقت په لحاظ د عبدالله په نامه سره یادیدلائ سي ،او له قطب څخه پرتّه �سیوی� پر بل ولي او صالح انسان باندي د طریقت له مخي ددغه نوم اطلاق مجاز بلل کیږي.

اودارنګه دوهم قسم په اولیاوو کښي داسي اولیاء دي چي و هر یوه ته له دوی څخه� عبدالرحمن � ویل کیږي . دا هغه اولیاء کرام دي چي هر یو د دوی د الله پاک د رحمن د نامه مَظهَر وي ،یعني د رحمن دمبارک نامه ظهور په دوی کښي غلبه کړیوی . د طریقت له مخي دغه قسم اولیاء هر یو رحمة اللعالمین بلل کیږي ،لکه څرنګه چي د رحمن په معنی کښي شمول او عاموالئ موجوددئ . ځکه چي د رحمن معنی داده : هغه ذات چي مهربانه دئ په دنیا کښي پر هر چا . نوپه دې وجه په کوم ولي کښي چي د الله پاک د دغه نوم د تجلي غلبه راغلې وي ، نودهغه وجود هم د هر چا لپاره رحمت ګڼل کیږي ، نو ځکه دَاقسم اولیاءکرام رحمة اللعالمین بولي .

او دارنګه د اولیاوو په منځ کښي یو قسم داسي ولیان دي چي هر یو د دوئ د �عبدالرحیم � په نامه یادیږي . دغه قسم هغه اولیاء دي چي هر یو د دوئ د الله (جل جلاله) د رحیم د نومه مَظهَر ګرځیدلئ وي ، لکه څرنګه چي د الله پاک دغه مبارک نوم د معنی په اعتبار خاص دئ تر مؤمنانو ،اود الله پاک تر صالحو بندګانو پوري . ځکه د رحیم معنی داده : هغه ذات چي رحم کونکئ دئ په آخرت کښي خاص پر مؤمنانو باندي . دارنګه په دغه قسم اولیاوو کښي هم دغه خاصیت موجود دئ چي هغه بندګان د خدائ پاک چي پرهیزګاره او صالحان وي ، او الله تعالی ورڅخه راضي وي ،نوپر هغوی باندي دوی رحمت او مهرباني کوي . او هغه انسانان چي الله پاک د دوی د ناوړو � بدو� عملو په وجه پر دوی باندي په غضب کښي وي ،نو پر هغو باندي دوی هم په غضب کښي وي او بَد یې ایسه وي.

محترمو ! د الله (جل جلاله ) د مختلفو نومونو د غلبې د ظهور په وجه څلرم قسم هغه اولیاء دي چي د الله پاک د � قدوس � د نامه تجلی اوظهور دده پر زړه باندي غلبه کړې وي .ودغه قسم اولیاوو ته � عبدالقدوسان � ،او وهر یوه ته یې عبدالقدوس ویل کیږي . ددغو قسم اولیاء کرامو خصوصیت دادئ چي الله (جل جلاله ) د دوی زړونه له إحتجاب څخه (یعني له دې څخه چي له خدائ تعالی څخه په حجاب او په پرده کښي سي ،مقدس او پاک ګرځولي دي ) نو په دې وجه د دوی زړونه له الله (عزمجده) څخه سیوی بل شئ نه ځایه وي . او همدغه قسم اولیاء ددغه مبارک حدیث قُدسِي مصداق دي چي داسلام پیغمبر ویلي دي ــ چي الله (جل شانه)فرمایلي دي : ( لا یسَعُنِي أرضِي وَ لا سمائي ،ویَسَعُنِي قلبُ عَبدِي المؤمن ) یعني نه سي ځایولائ ما ځمکه ځما او نه اسمان ځما،او ځایولائ سي ما ،زړه دبنده ځما چي مؤمن وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پنځم قسم هغه اولياءکرام دي چي د دوی پر زړو اندي د الله پاک د � السلام � دنومه ظهور او تجلی غالبه سوې وي . ودغه قسم اولياوو ته عبدالسلامان ،او هر يوه ته يې عبدالسلام ويل کيږي . ددغه قسم اولياوو يو خصوصيت دادئ چي الله پاک له غمو ،پريشانيو او آفاتو څخه سالم کړيدي .

شپږم ( ٦ ) قسم هغه اولياء کرام دي چي ودوئ ته عبدالملکان ،اوهريوه ته يې عبدالملک ويل کيږي . دا هغه اولياءکرام دي چي ددوی پر زړو باندي د الله پاک د �الملک � د نومه ظهور او تجلي غلبه کړې وي . ددغه قسم اولياوو خصوصيت دادئ چي الله پاک دوی د خپلو ځانو ،او د نورو خلګو مالکان ګرځولي وي ، په دې ډول چي دوی په خپلو ځانو کښي ،او په غير کښي په هغه ډول تصرف کوي چي د الله (جل جلاله ) اراده وي ،او الله تعالی په هغه امر کړئ وي . اودغه قسم ولي تر نورو ټولو خلګو په شرعي او ديني کارو کښي پر خلګو باندي ډېر شديد او سخت وي.

اوم ( ٧ ) قسم هغه اولياء دي چي د دوی پر زړو باندي د الله پاک د�المؤمن � د نومه تجلی او ظهور غالب سوئ وي ،چي وهر يوه ته ددغه قسم اولياوو عبدالمؤمن ويل کيږي . ددغه قسم اولياوو خصوصيت دادئ چي په امن او امانتداري سره په اعلی درجه موصوف وي ،اوپه همدغه صفتو سره يې په خلګو کي شهرت پيدا کړئ وي .يعني هم الله پاک دوی له عذابو او له مصيبتو څخه په امن کړيوي ،او هم خلګ دوی دډيري غټي امانتدارئ په صفت پيژني .

اتم ( ٨ ) قسم په اولياوو کښي هغه خلګ دي چي پر دوئ باندي دالله ( جل جلاله ) د �المهيمن� د نامه تجلی اوظهور غالبه سوئ وي . و هر يوه ته ددغو وليانو عبدالمهيمن ويل کيږي . ددغه قسم وَلِي يو خصوصيت دادئ چي دَئ هميشه په دې مشاهده کښي وي چي الله (جل شانه) پر هر شي باندي رقيب ،شهيد او حاضر دئ .اوبل خصوصيت يې دادئ چي دَئ دخپل ځان او د غير مراقبه،اوڅارنه کوي ،په دې ډول چي و هر خاوند د حق ته خپل حق ورکوي ،او د الله پاک په دغه مبارک فرمان عمل کوي چي فرمايلي يې دي ( وَاتِ كُل ذِي حَق حَقه ) يعني او ورکوه و هر خاوند دحق ته حق دده . لکه چي زما يو شعر دئ:

وهر حقدار ته خپل حق ورکوه همداسي نورو ته سبق ورکوه

نهم ( ٩) قسم په اولياوو کي هغه اولياء دي چي پر دوئ باندي د الله (جل جلاله ) د �العزيز� د نومه غلبه سويوي . ددغه وليانو وهر يوه ته عبدالعزيز ويل کيږي . د دغه قسم ولي خصوصيت دادئ چي د عزت او غلبې صفت په دوی کښي ډير ښکاره وي، په دې ډول چي هر څوک چي دده مقابل طرف وګرځي ،اوهره حادثه چي دَئ ورسره مخامخ سي نو الله پاک غلبه دده نصيب ګرځوي.

لسم ( ١٠ ) قسم په اولياوو کښي هغه اولياء دي چي د الله (جل جلاله ) د �الجبار� دمبارک نومه د تجلي او د ظهور غلبه پرده باندي راغلې وي . ددغه قسم وليانو وهر يوه ته عبدالجبار ويل کيږي .ددغه قسم اولياوو يو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خصوصیت دادئ چي د دوی په برکت سره الله تعالی د هر شي د کسر او نقصان جِبران کوي . ځکه چي الله پاک د خپل دغه مقدس نوم چي الجبار دئ د تجلي په سبب دده د حال جِبرَان کړئ دئ ،او دَئ يې جابرالحال گرځولئ دئ . نوپه دي وجه دَئ د نورو د حال دجبران سبب گرځي.

يولسم ( ۱۱ ) قسم په اولياوو کښي هغه اولياء دي چي پر ده باندي د الله تعالی د �المتكبر � د نوم ظهور او تجلي غلبه کړي وي . د اولياوو په منځ کښي ودغه قسم اولياوو ته ، وهريوه ته له دوی عبدالمتکبر ويل کيږي . ددغه ډول اولياوو يوه خاصه داده چي دوی خپل ځانونه د الله (جل جلاله ) په تکبر، کبريا او په لويي کښي فنا کړيدي ، اوپه اعلی درجه تذلل او عاجزي يې و الله تعالی ته کړي ده . او بل خصوصيت يې دادئ چي د الله (عزمجده) کبريا ،چي د دوی پر ظاهر او باطن باندي يې غلبه کړي ده ، نو په دي وجه دوی پرته �سيوى� له الله پاکه و هيچا ته د عاجزی سر نه ټيټوي ،ماسيوی له هغه چا چي و دوی ته دالله پاک له طرفه داحکم وي چي د هغه په مخ کي دوی بايد عاجزي غوره � اختيار� کړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترمو وروڼو' دطريقت اوتصوف له اهدافوڅخه يوبل ستر هدف دادئ چی دطريقت کامل اومکمل استاذان غواړی چه له هغو انسانانوڅخه چه بې تقواوي بې تقواپې لري کړي ،اودبې تقوايي پرځائ دبې تقوا انسانانو په زړو کښې دتقواملکه پيداشی ،اوتقواداسلام په مقدس دين کښې هغه صفت دئ چه له هرانسان څخه يې په ډيرټينګار سره دخدائ اودرسول لله له لوری څخه طلب کيږي٠ اوداالله جل جلاله په نزدېه انسانانوکښې ډيرشرافت مند اوډير عزتمندهغه څوک دئ چه ډير متقي اوپرهيز ګاره وي لکه چه الله جل جلاله د (سورهٔ حجرات) په ديارلسم ايت کښې فرمايلي دي : ان اکرم کم عند الله اتقا کم > يعني بې شکه ډير عزتمند ستاسي په نزد داالله (جل جلاله) ډير پرهيزګاره ستاسي دئ ٠ محترمو وروڼو ! تقوی په شريعت کي پر < ۷ > قسمه ده ، اول تقوی يعني پرهيز کول له کفر ، شرک ، اونفاق څخه ٠ دوهم تقوی او پرهيز کول دي د بدعت له کارو څخه ، دريم تقوی او پرهيز کول له کبيرو اوغټو ګناهونو څخه ، څلورم تقوی او پرهيز کول له صغيرو او کوچنيو ګناهونو څخه ، پنځم تقوی او پرهيز کول له هغو مباح او روا شيانو څخه چي که انسان په هغو شيانو کښي توغل < انهماک> او ډير مصروفيت وکړي نو د دې انديښنه پيدا کيږي چي په ګناه به اخته سي ، شپږم تقوی او پرهيز کول له مشتبه او پوشيده کارو څخه يعني له هغو کارو څخه چي د هغو کارو په باره کښي د انسان په زړه کښي دا تردد او شک پيداسي چي ايا دابه روا وي او که به ناورواي لکه چي حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه فرمايلي دي : (لا يبلغ العبد حقيقة التقوی حتی يدع ما حاک في الصدر >رواه البخاري في کتاب الايمان ) يعني هيڅ يو بنده و حقيقت ته دتقوی نه سي رسيدلائ تر هغه پوري چي هر هغه کار پريږدي چي دهغه په باره کښي دده په سينه کښي تردد موجود وي ،يعني دا انديښنه يې په زړه کښي وي چي دا کار خو به ناروا نه وي ، دارنګه دسنن تر مذي او سنن ابن ماجه په کتاب القيامة او کتاب الزهد کښي ددې مبارک حديث روايت سويدئ چي : لا يبلغ العبد ان يکون مِن المتقين حتی يَدَعَ مالا باس به حذرًا لِما به البَاسُ ) يعني هيڅ کله نه سي رسيدلائ هيڅ يو بنده و دې مقام ته چي له متقيانو څخه وشميرل سي تر هغه پوري چي پريږدي هر هغه کار چي د هغه په کولو کي کوم شرعي تاوان نه وي مګر خو د دې خطره وي چي که دغه کار وکړي نو بيا به په يوه داسي کار مبتلا سي چي هغه په شرع کښي نالايقه کار وي ٠ اوم (۷) قسم تقوی او پرهيزګاري کول دادي چي انسان له الله څخه غير نور هر څه پريږدي په دې معنی چي هر کار چي که وي که د دنيا اوداخرت کار وي صرف داالله جل جلاله درضا په خاطر يې کوي او بل يې هيڅ مقصد په نظر کښي نه وي نيولئ محترمو وروڼو ! د خدائ تعالی وليان حقيقي پيران ، او طريقت ، تصوف او عرفان د داسي مقدسو اهدافو لپاره کار کوي ، نو تاسي فکر وکړئ چي له دغي لاري څخه دمنکرو خلګو به څه درجه وي ٠ کامل پير ، او مرشد وخپل مريد ته ګوري چي په تاکښي کوم قسمونه د تقوی موجود دي او کوم نسته ، هر قسم دتقوی چي په ده کښي وجود نه لري نو مرشد يې کوښښ کوي چه په خپله توجه ، باطني فيض ، او په روحاني تعليم سره په همدغه مريد کښي هغه قسم د تقوی موجود کړي ٠

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اولیاوو څلرم ( ۴ ) قسم:

محترمو ! د الله (جل جلاله ) د مختلفو نومونو د غلبې د ظهور په وجه څلرم قسم هغه اولیاء دي چې د الله پاک د � قدوس � د نامه تجلی اوظهور دده پر زړه باندي غلبه کړې وي .ودغه قسم اولیاوو ته � عبدالقدوسان � ،او وهر یوه ته یې عبدالقدوس ویل کیږي . ددغو قسم اولیاء کرامو خصوصیت دادئ چې الله (جل جلاله ) د دوی زړونه له إحتجاب څخه (یعني له دې څخه چې له خدائ تعالی څخه په حجاب او په پرده کښې سي ،مقدس او پاک گرځولي دي ) نو په دې وجه د دوی زړونه له الله (عزمجده) څخه سیوی بل شئ نه ځایه وي . او همدغه قسم اولیاء ددغه مبارک حدیث قُدسِي مصداق دي چې داسلام پیغمبر ویلي دي ــ چې الله (جل شانه)فرمایلي دي : ( لا یسَعُنِي أرضِي وَ لا سمائي ،ویَسَعُنِي قلبُ عَبدِي المؤمن ) یعني نه سي ځایولائ ما ځمکه ځما او نه اسمان ځما،او ځایولائ سي ما ،زړه دبنده ځما چې مؤمن وي.

او پنځم قسم هغه اولیاءکرام دي چې د دوی پر زړو اندي د الله پاک د � السلام � دنومه ظهور او تجلی غالبه سوې وي . ودغه قسم اولیاوو ته عبدالسلامان ،او هر یوه ته یې عبدالسلام ویل کیږي . ددغه قسم اولیاوو یو خصوصیت دادئ چې الله پاک له غمو ،پریشانیو او آفاتو څخه سالم کړیدي .

شپږم ( ٦ ) قسم هغه اولیاء کرام دي چې ودوئ ته عبدالملکان ،اوهریوه ته یې عبدالملک ویل کیږي . دا هغه اولیاءکرام دي چې ددوی پر زړو باندي د الله پاک د �الملک � د نومه ظهور او تجلي غلبه کړې وي . ددغه قسم اولیاوو خصوصیت دادئ چې الله پاک دوی د خپلو ځانو ،او د نورو خلگو مالکان گرځولي وي ، په دې ډول چې دوی په خپلو ځانو کښې ،او په غیر کښې په هغه ډول تصرف کوي چې د الله (جل جلاله ) اراده وي ،او الله تعالی په هغه امر کړئ وي . اودغه قسم ولي تر نورو ټولو خلگو په شرعي او دیني کارو کښې پر خلگو باندي ډېر شدید او سخت وي.

اوم ( ۷ ) قسم هغه اولیاء دي چې د دوی پر زړو باندي د الله پاک د�المؤمن � د نومه تجلی او ظهور غالب سوئ وي ،چې وهر یوه ته ددغه قسم اولیاوو عبدالمؤمن ویل کیږي . ددغه قسم اولیاوو خصوصیت دادئ چې په امن او امانتداري سره په اعلی درجه موصوف وي ،اوپه همدغه صفتو سره یې په خلگو کي شهرت پیدا کړئ وي .یعني هم الله پاک دوی له عذابو او له مصیبتو څخه په امن کړیوي ،او هم خلگ دوی دډېري غټي امانتدارئ په صفت پیژني .

اتم ( ۸ ) قسم په اولیاوو کښې هغه خلگ دي چې پر دوئ باندي دالله ( جل جلاله ) د �المهیمن� د نامه تجلی اوظهور غالبه سوئ وي . و هر یوه ته ددغو ولیانو عبدالمهیمن ویل کیږي . ددغه قسم وَلِي یو خصوصیت دادئ چې دَئ همیشه په دې مشاهده کښې وي چې الله (جل شانه) پر هر شي باندي رقیب ،شهید او حاضر دئ .اوبل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خصوصیت یې دادئ چې دَئ دخپل ځان او د غیر مراقبه،اوڅارنه کوي ،په دې ډول چي و هر خاوند د حق ته خپل حق ورکوي ،او د الله پاک په دغه مبارک فرمان عمل کوي چي فرمايلي يې دي ( وَاتِ كُل ذِي حَق حَقه ) يعني او ورکوه و هر خاوند دحق ته حق دده . لکه چي زما یو شعر دئ:

وهر حقدار ته خپل خپل حق ورکوه همداسي نورو ته سبق ورکوه

نهم ( ۹) قسم په اولیاوو کې هغه اولیاء دي چي پر دوئ باندي د الله (جل جلاله ) د �العزيز� د نومه غلبه سویوي . ددغه ولیانو وهر یوه ته عبدالعزيز ویل کیږي . د دغه قسم ولي خصوصیت دادئ چي د عزت او غلبې صفت په دوی کښي ډير ښکاره وي، په دې ډول چي هر څوک چي دده مقابل طرف وګرځي ،اوهره حادثه چي دَئ ورسره مخامخ سي نو الله پاک غلبه دده نصيب ګرځوي.

لسم ( ۱۰ ) قسم په اولیاوو کښي هغه اولیاء دي چي د الله (جل جلاله ) د �الجبار� دمبارک نومه د تجلي او د ظهور غلبه پرده باندي راغلې وي . ددغه قسم ولیانو وهر یوه ته عبدالجبار ویل کیږي .ددغه قسم اولیاوو یو خصوصیت دادئ چي د دوی په برکت سره الله تعالی د هر شي د کسر او نقصان جِبران کوي . ځکه چي الله پاک د خپل دغه مقدس نوم چي الجبار دئ د تجلي په سبب دده د حال جِبرَان کړئ دئ ،او دَئ يې جابرالحال ګرځولئ دئ . نوپه دي وجه دَئ د نورو د حال دجبران سبب ګرځي.

یولسم ( ۱۱ ) قسم په اولیاوو کښي هغه اولیاء دي چي پر ده باندي د الله تعالی د �المتكبر � د نوم ظهور او تجلي غلبه کړې وي . د اولیاوو په منځ کښي ودغه قسم اولیاوو ته ، وهريوه ته له دوی عبدالمتكبر ویل کیږي . ددغه ډول اولیاوو یوه خاصه داده چي دوی خپل ځانونه د الله (جل جلاله ) په تکبر، کبريا او په لويي کښي فنا کړيدي ، اوپه اعلی درجه تذلل او عاجزي یې و الله تعالی ته کړې ده . او بل خصوصیت یې دادئ چي د الله (عزمجده) کبريا ،چي د دوی پر ظاهر او باطن باندي یې غلبه کړې ده ، نو په دې وجه دوی پرَته �سيوی� له الله پاکه و هیچا ته د عاجزی سر نه ټیتوي ،ماسیوی له هغه چا چي و دوی ته داالله پاک له طرفه داحکم وي چي د هغه په مخ کي دوی باید عاجزي غوره � اختیار� کړي .

محترموو رونړوپه دې برخه کښي ددې بیان درته کوم چي

د کومو شرطو له مخي یو شخص پیر او مرشد جوړیدلاۍ سي ؟

محترمو ! یو څوک چي په طریقت کښي شیخ کامل ، مکمل ګرځي ،نوپه ده کښي به خامخا دغه شرطونه موجود وي :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول : د ديني علم خاوند به وي ، او په قرآن كريم ،او د نبي عليه السلام په احاديثو به عالم وي . ځكه چي غرض له دې ځخه چي څوک له ده سره بيعت كوي ،اومُريد يې گرځي دادئ چي دَئ به و هغه ته (امر بالمعروف او نهي عن المنكر ) كوي ،يعني په فرضو ،واجبو، سنتو ، مستحبو ،اود خير په كارو به دَئ و خپل مُريد ته امر كوي ، او له ناوړو كارو ځخه به يې را منع كوي .اودارنگه به دَئ و مُريد ته ددې لارښوونه كوي چي په څه ډول مُريد كولاىٔ سي چي باطني سكون ،او له رذيلو اخلاقو څخه تصفيه او په ښو اخلاقو سره خپل باطن ښائسته كول حاصل كړي ،نو څوک چي علم نه لري نو هغه كله د دې قدرت لري چي هدايت دې ويو چاته وكړي .ځكه چي و خداىٔ ته او د الله تعالى و دين ته رابلل په حكمت او په موعظه حسنه سره كيږي ، لكه الله پاک چي فرمايلي دي : أُدعوا الى سبيلِ ربک بالحكمة والموعظة الحسنة ) يعني اې رسوله ! راوبوله خلگ و لاري ته د رب ستا چي دين د اسلام دئ په حكمت سره او په نيک نصيحت سره .اوپه حكمت او موعظه حسنه سره د خلگو رابلل بې علمه نه سي كيداىٔ . اومشائخو د طريقت ټولو په يوه خوله دا ويلي دي چي شيخ د طريقت به په دې ډول وي چي دده خبري به له خلگو سره يا له قرآن څخه وي ، اويابه له حديثو څخه وي ، اويا به دمشائخو له حكايتو او واقعاتو څخه وي.

دوهم به داشرط په ده كښي موجود وي چي عدالت اوتقوى به لري ،په دې ډول چي له كبيرو گناوو څخه به ځان ساتونكئ وي ، او پر صغيرو گناوو به مُصِر او دوام كونكئ نه وي.

دريم به دا شرط په ده كښي موجود وي چي دَئ به زُهد لري ، يعني له دنيا څخه به مخ اړونكئ وي ،اود آخرت په كارو كښي به رغبت لري ، اوپر طاعتو او مأثورو ذكرو باندي به حرص ناک وي ، او له الله جل جلاله سره به د ده زړه په دوامداره توگه په تعلق كښي وي.

څلرم به داشرط په ده كښي موجود وي چي و خلگو ته به امربالمعروف او نهي له منكره كوي . په ديني امورو كښي به چشم پوشي ، او إغماض نه كوي.

پنځم به دا شرط به پكښي موجود وي چي د طريقت د مشائخو به يې مُريدي كړې وي ، او له هغو څخه به يې اجازه تر لاسه كړې وي . ځكه د الله جل جلاله عادت پر دې باندي جاري سوئ دئ چي يو سړئ تر هغه پوري كاميابه ، مفلِح ، او كامل نه سي گرځيدلاىٔ چي له مفلحينو او د كمال له والاوو سره يې صحبت نه وي كړئ.

شپږم به داشرط پكښي موجود وي چي زړه به يې هميشه بيداره وي ،زړه به يې نه بيده كيږي ، په دې وجه چي دَئ حقيقي وارث د حضرت محمد ( صلى الله عليه وسلم ) بلل كيږي . او دده مبارک به زړه نه ويده كيدئ ، او سترگي مباركي به يې بيدې كيدلې ، لكه چي ده مبارک فرمايلي دي :

عَينَاني تَنامان َ لا يَنامُ قَلبِي ) يعني دواړې سترگي ځما ويدې كيږي ،او زړه مي نه بيديږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وم ( ۷) به داشرط پکښي موجود وي چي د خپلو مُریدانو و مال ته ، او د دوی و حمد ،ثنا او صفت ته به هیڅ طمعه نه کوي ( قطب الإرشاد ص ۵۲۷ ) .

پوسه ! چي په نادر ډول داسي کیدلائ سي چي یو سړئ بې له دې چي تعلم او زده کړه دعلم په دغه متعارف ډول وکړي ، په خفي ډول الله پاک د علم دین خاوند وګرځوي ،او بیا يې په سبب د سلوک او د عمل په علم شیخ کامل او مُکَمِّل کړي ،نو دغه ډول سړئ د خلګو په نزد کوم چي د ده له حال څخه خبر نه وي � اَمِي � وي ، ځکه چي په ظاهره خو ده هیڅ تعلُم نه وي کړئ . او په دې وجه د خپل وخت د عالمانو د اعتراضاتو هدف هم جوړ سوئ وي ، مګر په باطن کښي عالِم وي ، لکه صاحب د � اِبریز� کتاب چې په همدغه شکل وَلي تیر سوئ دئ . اوپه نادر ډول داسي هم کیدلائ سي چي یو سړئ درازه زمانه له تقواداره علماوو سره په صحبت کښي تیر کړي ، او له دې لاري الله جل جلاله ده ته علم ورنصیب کړي او بیا يې د سلوک په سبب په ولایت سره مشرف کړي ، که څه هم ده په معتاد ډول تعلم نه وي کړئ . او کله داسي هم کیدلائ سي چي یو سړئ پرته له دې چي له یوه ژوندي شیخ سره بیعت وکړي د یوه وفات سوي وَلي‌ِ په سبب شیخ د طریقت و ګرځي ، چې و دغه راز شیخ ته د اهل طریقت په اصطلاح کښ � أُوَیسِي � ویل کیږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسلام کښې اول ځل د صوفي په نامه څوک یاد سویدئ:

حضرت مولانا عبدالرحمن جامي رحمه الله په خپل کتاب (نفحات الأنس) کښې په دې اړه داسي فرمایلي دي:

چي حضرت شیخ سفیان ثوري رحمه الله فرمایلي دي چي دلومړي ځل لپاره حضرت ابوهاشم رحمه الله چي دشام اوسیدونکئ وو اوډیر پرهیزگاره او متقي شخصیت وودصوفي په نامه سره یاد سو . حضرت سفیان ثوري رحمه الله فرمایلي دي چي زه په دې نه پوهیدم چي صوفي وچاته ویل کیږي تر څو چي مي ابوهاشم صوفي ولیدئ . حضرت سفیان ثوري رحمه الله چي په خپل وخت کښې مجتهد مطلق وو ، او دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله له زمانې څخه برخورداره وو په( ۲٦۱) هجري قمري سنه کښې په بصره کي وفات سویدئ . دطریقت او تصوف اساسي هدفونه اومقاصد:

محترمو ورونو ! اوس دطریقت او تصوف په اساسي بحثو پیل کوو چي په دې بحثو کښې به تاسي دطریقت اوتصوف له ټولو اړخو څخه انشاءالله په پوره توگه خبر سی ،که څه هم د طریقت او تصوف بحثونه ډیر غامض او باریک دي خو موږ به ئې انشاءالله په داسي ساده الفاظو سره تشریح کوو چي هر څوک به په ډیره اساني سره په پو هیږي په دې بحثو کښې به و تاسي ته د طریقت او تصوف بنیادي مقصدونه ، او د شیخ او مرشدکیدولپاره ضروري شرطونه ، اودارنگه له مرید سره لازم صفتونه ،همداډول داولیاوو دشان عظمت ، او لوئ والئ ، او دخدایٔ (ج )له ولیانو سره دتعلق او محبت گټي ، او له دوی سره د دښمنئ او عداوت نقصانونه ، همدارنگه په طریقت کښې د اولیاؤ قسمونه ، او د طریقت مختلفي سلسلې ، او د دوی مختلفي تگ لاري په تفصیل سره بیان سي.

اول دطریقت او تصوف اساسي یا بنیادي اهدافو ته متوجه سی ! په اجمالي ډول باید ووایم چي د طریقت او د تصوف مقصد دادئ چي هغه انسانان چي له الله جل شانه څخه درذیلو اخلاقو په ذریعه اودارنگه د ناسمو اعمالو په وایسطه پرې سوي ، جلاسوي ،او لیري سوي وي ، اوهغه انساني سلیم ،او صحي فطرت کوم چي پر هغه فطرت باندي الله پاک هر انسان پیدا کړیدئ له لاسه ور کړئ وي دغه انسانان بیرته له الله �جل جلا له� سره وصل کړي او بیرته یې د هغه فطرت خاوندان کړي چي د اسلام پیغامبر حضرت محمد �صلی الله علیه وسلم � یې په دغه مبارک حدیث کي ذکر کړیدئ چي : ( کل مولود یولد علی فطرة الاءسلام فابواه یهودانه او ینصرانه او یمجسانه ) او دا کار دطریقت او تصوف استاذان په دې ډول کوي چي دغه قسم انسانان په خپله توجه او محنت او تعلیم سره ، اوپه خپل فیض او برکت سره په تذکیه ، او په تحلیه ، او دالله �جل جلاله� په عشق سره مشرف وگرځوي

بسم الله الرحمن الرحیم ، نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

محترموورونوپه طریقت کښی اودطریقت داستاذانوپه نظرکښی د حضرت حق سبحانه و تعالی د ذات او صفاتو د مبارکو اسماوو ذکر او یادونه یو غیرمعارض أصل دئ . لکه څرنگه چي د شریعت اسلامي او د قرآني ایاتو او نبوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



أحاديثو له مخي د الله جل جلاله ذكر و الله جل جلاله ته د قربت او د نزديكت او دارنګه د انسان د ظاهري او باطني پاكوالي او د قلبي تصفيې لپاره ډير أهم كار او عمل بلل سوئ دئ ، لكه الله جل جلاله چي فرمايلي دي : فاذكرواني أذكركم واشكروالي ولاتكفرون .

د الله جل جلاله د ذكر په اړه به ان شآءالله تفصيلي معلوماتونه د طريقت او شريعت له نظره په راتلونكو برخو كښي درته راسي ، دابرخه فقط و فقط د دغه عظيم الشانه مَبحَث د عنوان او د سرليک په ډول وليكله سوه .

قدرمنو ورونو

ذكر په عربي ژبه كښي د يادوني معنى وركوي چي څوک يو شئ يا يوحالت يادوي ، لكه مسافر چي دكورنۍ څخه ليري د پرديسي په حالت كښي خپل كور او خپلوان يادوي .

د ذكر بله معنى د هيري ضد مفهوم افاده كوي مثلا : دوه جمع دوه څلوركيږي يا اور تود او سوځونكئ دئ يا داسي نور مسايل چي ذهن يې أكثراً نه هيروي ، دژبي بيان يا د قلم د ليكني د اثره افادې ته هم ذكر ويل كيږي ، په ذهن كښي ديوې موضوع يا شي حاضرول د هغه شي يا موضوع ذكر بلل كيږي ، ذكر د زدكړې معنى هم وركوي او د ځينو نورو مفاهيمو د افادې لپاره هم استعماليږي ، نصيحت او پند ته هم ذكر ويل سوئ دئ .

په قرآن عظيم كښي يو شمير اياتونه د ذكر په باره كښي نازل سويدي ، او د مسلمانانو د نجات او فلاح لپاره يې د خدائ (جل جلاله ) د مباركو أسماؤ د ذكر هدايت كړئ دئ ، مثلا:

�د خپل خدائ نوم سهار او ماښام يادوه . �

حضرت أبوسعيد (رضي الله عنه ) وايي چي د حضرت رسول أكرم ( صلى الله عليه وسلم ) څخه پوښتنه وسوه چي د قيامت په ورځ د خدائ (ج) په نزد كوم بنده افضل او لوړ دئ ؟

ده مبارک ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل چي : د خدائ ذكركونكي ( نر او ښځي ) .

بيا پوښتنه وسوه چي يارسول الله اياد ذكرالهي كونكئ د خدائ په لار كښي د جهاد كونكي څخه هم أفضل دئ ؟

پيغمبر ( ص ) ورته وفرمايل : كه هغه جهادكونكئ خپله توره پر كافرانو او مشركانو وچلوي تر دې چي د هغه توره ماته سي او هغه خپله په وينو رنګ سي ( يعني شهيد سي ) بيا هم د خدائ ذكر كونكئ په مرتبه كښي د هغه څخه بهتر دئ .

)د مشكوة حواله پر صحيح ترمذي . (

په بخاري شريف كښي له حضرت أبوهريرة څخه روايت دئ چي رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) فرمايلي دي چي الله تعالى فرمايي :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د خپل بنده سره یم تر څو پوري چي هغه مایادوي او د هغه دواړي شونډي زما په ذکر سره حرکت کوي .

د حضرت عبدالله بن عمر (رض) څخه روایت سوئ دئ چي رسول الله (ص) فرمایلي دي : الاولکل شیء صقالة وصقالة القلوب ذکرالله ،یعنی

دهر شي صفايي سته او د زړه صفايي د خدائ (جل جلاله ) ذکر دئ ، او د خدائ (ج) د عذاب څخه د خلاصون لپاره تر ذکر الهي هیڅ شئ بهتر نسته . اصحابو عرض وکړ ایا د خدائ (ج) په لاره کښي تر جهاد هم أفضل دئ ؟ ده مبارک ( صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل : که څه هم د جهاد کونکي توره په جنګ کي ماته سي . ( مشکوة شریف ).

محترمواسلامی وروڼوله مخه ترتحلیل دمباحثو دذکرپه دې برخه کښی داهل السنت والجماعت دڅلوامامانوموقف درته ذکرکوم کوم چی دتصوف اوطریقت په باره کښی یې درلودئ چی بیان یې په دې شرحه دی

اول

امام اعظم ابوحنیفه نعمان رحمه الله،څموږدغه مبارک اوعالیقدره امام په تصوف کښی صاحب دطریقت وُپه هدایة النافع کښی مذکوردی چی امام اعظم په طریقت کښی دامام جعفرصادق شاګرداومریدؤپه درمختارکي اوپه حاشیه دابن عابدین کښی پردرمختارباندی راغلی دی چی ابوعلی دقاق ویلی دی چی مادطریقت اخذله ابی قاسم نصرآباذی څخه کړیدی اوابوقاسم ویلی دی چی مادطریقت اخِسته له شبلی څخه کړی دی اوهغه له سری سقطی څخه اوهغه بیاله معروف کرخی څخه اوهغه بیاله داوودطائی څخه اخذدطریقت کړیدی اوهغه بیا علم اوطریقت دواړه له امام اعظم ابوحنیفه څخه حاصل کړیدی

دوهم

امام مالک بن انس رضي الله عنه هم صاحب دشریعت اودطریقت ددواړو وو علامه عدوي په خپله حاشیه کښي کومه چي پرشرحه دامام زرقاني پرته ده پرمتن دعزیه کوم چي په فقه مالکي کښي جوړسویدی ددریم جز په صفحه۱۹۵ کښي ویلی دي چي امام مالک رحمه الله تعالی فرمایلي دي (من تفقه ولم یتصوف فقدتفسق ومن تصوف ولم یتفقه فقدتزندق ومن جمع بینهمافقدتحقق)یعنی هرڅوک چی دفقهی علم حاصل کړی اوعلم تصوف اوطریقت حاصل نکړی اودطریقت پرلارباندی ولاړنسی نوپه تحقیق سره به دغه سړئ فاسق وګرزی اوهرڅوک چی بیاطریقت اوعلم تصوف حاصل کړی اودعلم فقهی تحصیل ونکړی نوپه تحقیق سره به دغه څوک زندیق وګرزی اوهرڅوک چی دغه دواړه علمونه سره جمع کړی نوپه تحقیق سره دغه سړئ وحق ته ورسیدئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم امام شافعی رحمه الله فرمایلی دی چی ستاسی له دنیا څخه دری شیان وماته محبوب دی،اول ترک دتکلف دوهم له خلګوسره ښه معاشرت دریم پیروی اواقتداء په لاره پسی داهل تصوف،انظرکشف الخفاءللامام العجلونی ،ص،۳۴۱،جزء،،۱

څلرم امام احمدرحمه الله فرمایلی دی چی زه ترصوفیه ؤبهترین قومونه نه پیژنم یوچاورته وویل چی دوی سماع اوتواجدکوی ده په جواب کښی و رته وویل چی پریږده دوی چی یوساعت له خپل رب سره خوشحالی وکړی،غذاءالالباب شرح منظومة الآداب،جزء،۱ص،۱۲۰المحمدالسفارینی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترمووروڼودتصوف اوعرفان په دې برخه کښې وتاسی ته په تصوفی اصطلاحاتوکښی دذکردډولوبیان کوم کوم چی په دې شرحه دی:

١ (تقلیدی ذکر (٢) تحقیقی ذکر (٣) (جلی ) څرګند ذکر (۴)(خفی ) پټ ذکر

تقلیدی ذکر:

تقلیدی ذکر هغه ډول ذکرته ویل کیږي ، چی ذاکر محض دتقلید له رویه ذکرکوی ، یعنی ژبه یې په ذکر اخته وی ، مګر دزړه حضوریې لا نه وی موجود سوی ، پداسی حالت کی چی یوازی ژبه په ذکر مصروفه وي ، اوزړه ورڅخه خبرنه وی . شیخ اومرشد کوښښ کوي چی په مرید کښی باطنی حضور ، دزړه بیداری ، اوذهنی تمرکز زیات کړی . شیخ پدې پوهیږی چی د سالک په لومړنی دوره کښی دذکر قلبی توجه اوحضور نسبتا لږ وی ، اودهغو مرحلو څخه چی نوی صوفی اوسالک تیریږی ، دزړه دحضور پیداکېده ضرور امردی .ځکه چی په صوفیانه اصطلاحاتو کښی که ذکر په خوله ویل کیږی اوزړه ورڅخه غافله وی ، نتیجه یې داسی ده ، لکه : څوک چی تخم په شوره زاره مځکه کښی وکری . چی حاصل یې طبعا مطلوب نه وی .

تحقیقی ذکر :

دطریقت دسیر اوسلوک له مخې ذکر هغه وخت تحقق پیداکوی ، چی دکامل شیخ له لو ری ومریدته تعلیم اواجازه ورکړه سی ، اودهغه په روح اوزړه کښی ځای ونیسی څوپه دې توګه دذکراغېزه زیاته سی . ذکر په طریقت کښی دمریددلومړنی مرحلې بیا تراخیرنی پړاو پوری ، چی دفنا اوبقا مقامونه دي ، ملګری وي ، ځکه چی ذکر سره دزړه له حضوره مرید مرحله په مرحله دیوه مقام څخه وبل روحانی مقام ته لوړه وی .

جلی ذکر :

جلی اوڅرګند ذکر هغه ډول ذکر ته ویل کیږی چی ، ذاکر نسبتا په لوړ اواز سره ذکر کوی په ځنوتصوفی سلسلوکښی دلوړ اواز یعنی (جلی ) ذکر اصل منل سویدی ، دحضرت شیخ عبدالقادرجیلانی (رح) سلسله چی په قادر یه مشهوره ده وجلی ذکرته ترجیح ورکوی .

خفی (کرار) ذکر :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خفی یاکرار ذکر وهغه ډول ذکرته ویل کیږی چی ذاکر په کښته اواز سره ذکر کوی . دحضرت شاه نقشبند (رح ) طریقه چی په نقشبندیه ، سلسله سره مشهوره ده ، دخفی ذکر حالت یې منلی دی .

حتی که مرید دعادی خلګوسره په مجلس کښی ناست هم وی دخفی ذکر کولو څخه غافل نه وی . ذکرکه خفی وی یاجلی دمرید دزړه حضورلازم دی . دذکرنوعیت ، او وخت دپیر اومرشد له لوری ټاکل کیږی دذکر په نوعه کښی کله داسی حالت هم راځی ، چی مرید دخپل هر نفس چی با سی یا یې بیرته ننباسی ، د دالله جل جلاله داسماؤ څخه په هغه ډول چی دپیر له لوری وظیفه ورکړه سوی وی ، ذکر کوی ، دسا ایستواوبیرته ننیستوپه هردم کښی ( ذکر ) دلاسه نه ورکوی ، ځکه چی دمرید دپاره دطریقت له رویه په ذکر کښی یوګړی ځنډهم تاوان لری .

محترمو مسلمانانو له مخه تر دي چي د تصوف او عرفان دشرعی حیثیت په بیان شروع درته کوم ستاسي توجه یوې ضروري خبري ته را ګرځوم ، هغه دا چي دهغو شیانو له جملې څخه چي نن صبا په مسلمانانو کښې په عامه توګه منځ ته راغلي دي او د دې وړ دي چي ډېر افسوس باید سرے پرې وکړي یو لوے شئ دادئ چي له تصوف او عرفان څخه مسلمانان یا غافل دي ، او یا یې مخالف دي ، هغه خلق چي د تصوف اوعرفان عقیده لري له تصوف څخه په غفلت کښې پراتهٔ دي ۰ د مثال په ډول په هیڅ مدرسه ،او مکتب کښې د تصوف د علم یو کتاب هم محصلینو ته نه تدریس کیږي او نه تعلیم ، د اکثرو علماؤ چي پلټنه وشي نو صورتحال یې دا وي چې د تصوف د علم یو کتاب یې په ټول عمر کښي په کتب خانه کښې لا نه وي لیدلئ ، او ځیني خلق لکه وهابیان بیاپه دې ډول دي چي د اسلام د مقدس دین دغه عظیمه شعبه چي تصوف او عرفان دے بیخي کفر او شرک ګڼي ، او صوفیان او اولیاء کرام العیاذ بالله مشرکان او کافران بولي ۰ دبېلګي په توګه په یو کتاب کښې چې د (( فکر صوفي )) په نامه دئ او یو وهابي ملا چي عبدالرحمن نومیږي د تصوف د علم او د اولیاء کرامو په رد کښې جوړ کړئ دئ او نن صبا د انترنیټ له لاري هم شائع شوے دے داسي راغلي دي : چي ( العیاذ بالله ) تر ټولو هغو فتنو چي مسلمانان په مبتلا شوي دي لویه فتنه د تصوف ده چي ټول قسمونه د کفر ئې په بغل کښې نیولي دي ۰ نو په دې سبب موږ غواړو چي مسلمانانوته د تصوف او عرفان په اړه درجه په درجه مفصل معلومات ورکړو.

د تصوف شرعي حېثیت

محترمو مسلمانانو د تصوف او عرفان دبیان د سلسلې په دې برخه کښې تاسو محترمو ته د تصوف شرعي حېثیت ، او د صوفي دکلمې تحقیق وړاندې کوم ۰ محترمو په اسلام کښې د تصوف شرعي حېثیت په دې ډول دے چې تصوف د دین یو داسي مهمه شعبه ده لکه څنګه چي (فقه) د دین مهمه شعبه ګڼله کیږي ۰د (درمختار) او د فقهې د نورو معتمدو کتابو په حواله لکه څنګه چي د فقهې د علم زدکړه فرض کفائي ده دا رنګه د تصوف د علم زده کړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په مسلمانانو باندې فرض كفائي ده ۰ د اسلام په ابتدائي دورو كښې حتی د امام ابوحنيفه رحمه الله په زمانه كښې (( علم فقه )) د دين د ټولو شعبو نوم ؤ په دې ډول چې علم عقايد ، او علم د ټولو ظاهري شرعي اعمالو لكه نمونځ ، روژه ، حج ۰ او د تصوف علم ټول په (( علم فقه )) كښې داخل وو همدا سبب دے چې امام ابوحنيفه رحمه الله خپل هغه كتاب چې په عقايدو كښې يې تصنيف كړے دے په فقه اكبر سره مسمی كړيدئ اودې ته دفقهې قديمي اصطلاح ويله كيږي ، په وروسته زمانه كښې علماوو د ډېر اهتمام له وجهې ((علم عقايد)) ځانته علم وګرځاوو او په ((علم كلام )) سره يې مسمی كړ ، ا و ((علم اخلاق)) يې ځانته علم وګرځاوو او په ((علم تصوف )) سره يې مسمی كړ ، او د ظاهري اعمالو علم يې ځانته علم كړ او په ((علم فقه)) سره يې مسمی كړ او دې ته جديده اصطلاح ويله كيږي ۰ دجديدې اصطلاح له مخې د دين علم دري قسمه علم دے علم كلام ، او علم تصوف ، او علم فقه چې په قديمه اصطلاح كښې دغو درې واړو ته فقه ويله كيده ۰ په قران كريم كښې او دا رنګه په نبوي (ص) مباركو احاديثو كښې چې امر په تفقه في الدين راغلي دے مراد ورڅخه د همدغې قديمي اصطلاح مطابق زده كول د دغو درې واړو علومو دي ۰ د فقهې او د تصوف تر منځ داسې شديد تړون موجود دے چې عمل كول په فقهې باندې بې له تصوفه ، او عمل كول په تصوف بې له فقهې ممكن نه دے ۰ په قران كريم او په سنت نبوي كښې چې مسلمانان د فقهې په زدكړه امر شوے دے په هغه عمل كول بې له تصوفه ممكن نه دے ۰

محترمو ! تصوف مختلف نومونه لري لكه علم قلب ، علم اخلاق ، احسان ، سلوك او طريقت ۰ په قران كريم او په سنت نبوي (ص) كښې تصوف په اكثرو ځايو كښې د احسان په لفظ سره ياد شوے دے ، او زموږ په زمانه كښې دغه علم د تصوف په نامه سره مشهور دے ۰ محترمو! لكه څنګه چې ډېر افعال او كارونه د انسان له ظاهري اعضاو او اندامونو څخه صادريږي ( چې دې ته اعمال ظاهره ويل كيږي ) دا رنګه ډېر اعمال بيا داسې دي چې د انسان له باطن او زړۀ څخه صادريږي ( اودغو اعمالو ته اعمال باطنه ويل كيږي ) بيا لكه څنګه چې دغه ظاهري عملونه د شريعت له نظره ځيني فرض ،او واجب دي لكه نمونځ ، روژه ، زكات ، حج، وتر ،او ځيني سنت ، او مستحب دي ، او ځيني حرام ، او مكروه دي دا رنګه د انسان باطني عملونه د قران كريم او د سنت نبوي (ص) له نظره ځني عملونه فرض دي لكه تقوی ، له خدائ جل جلا له څخه ويره ، له خداے او رسول (ص) سره محبت ، اخلاص ، توكل ، صبر ، شكر ، تواضع ، خشوع ، قناعت ، حلم ، سخاوت ، حيا ، رحم دلي ، وغيره ، دغو اخلاقو ته فضايل او اخلاق حميده ويل كيږي ۰او ځينې باطني عملونه د انسان بيا حرام او ناروا دي لكه تكبر ، عجب ، ريا ، محبت د مال ، محبت د جاه او منصب ، بخل ، بزدلي ، لالچ ، دښمني ، حسد ، كينه ، سنګدلي ، او بې محله يا له اندازې وتلې غصه ، وغيره چې دغو ته رذائل يا اخلاق رذيله ويل كيږي ۰

او لكه څنګه چې ظاهري اعمال ترفقهې پورې تعلق لري او دفقهې د علم له لاري دظاهري اعمالو فرض والئ او حرام والئ معلوميږي او د علم فقهې د دستور مطابق هر مسلمان مكلف دے چې دغه ظاهري عملونه انجام كړي دا رنګه تمام فقها او علما پردې باندې متفق دي چې له باطني اخلاق رذيله وو څخه ځان ساتل او دا رنګه باطني اخلاق

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمیده په ځان کښې راوستل پر هر عاقل ، بالغ مسمان نر ، او ښځه باندې فرض دي په دې اړه د در مختار د اول جلد ٤٠ صفحه وګورۍ ۰

له اخلاق رذیله ؤ څخه ځان ساتلو ، او اخلاق حمیده په ځان کښې راوستلو ته اصلاح النفس ، یا تزکیۀ نفس ، یا تزکیۀ اخلاق ، یاتهذیب اخلاق یا تهذیب نفس ویل کیږي او دا د تصوفو حاصل او مقصد دے ۰ په قران کریم کي الله پاک د نفس د تذکیې په شان کښې خپلو بندګانو ته دا سې هدایت فرمایلے دے: قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا (سورۀ شمس ۹ او ۱۰ ایتونه ) ۰ یعني په تحقیق سره په مراد ورسیدی هغه څوک چي پاک یې کړ نفس خپل له رزیلو اخلاقو څخه او په تحقیق سره نامراده شو هغه څوک چي پټ یې کړ نفس خپل په رزیلو اخلاقوسره ۰

محترمومسلمانانو وروڼو دتصوف اوعرفان پدې برخه کښې دهغوصفاتوبیان درته کوم کوم چې په طریقت کښې دمرید دپاره ضروردی چې په هغوصفتوسره به موصوف وي د دې دپاره چې له سلوک اودشیخ اومرشد له صحبت څخه ګټه واخلي او وکمال ته ور سېږي اوکه دغه صفتونه په مرید کښې موجود نه وي نوبیا له سلوک اوله صحبت څخه دمرشدفیض اوبرکت نسی حاصله ولای او وکمال ته نسی رسېدلای هغه صفتونه ټول شل صفتونه دي کوم چې دطریقت علماوو ذکرکړیدي اوشرحه یې په دې ډول ده

اول

صفت توبه ده، په طریقت کښي دمریددپاره داضروري ده چي کله له یومرشدسره بیعت وکړي نوبه دنصوح اوداخلاص توبه له ټولوګناووڅخه کاږي اوبیاچي له هرمقام څخه واوچت اولوړمقام ته ورسیږي نودتوبې تجدیدبه کوي ځکه په هرمقام کښي چي دَيْ وي نوځني داسي شیان سته چي نسبت وهغه مقام اووحال ته دده ګناوي بللي کیږي که څه هم دلاندي مقام ووالاته هغه شیان نیک کارونه ګڼل کیږي لکه چي په شریعت اوطریقت کښي دامشهورقول دی(حَسناتُ الابرارِ سیئات المقربین)بلکي دغه مقام اوحال چي ده درلودی نسبت وهغه مقام اوحال ته چي اوس دَيْ ورپورته سودطریقت له مخی ګناه بلله کیږی

دوهم

صفت زهددی یعني له دنیاڅخه بې رغبته کیدل دي،مریدبایدتارک ددنیا وي له عیاشي اوله تنعم او ترفه څخه مخ اړوُنکی وي دمریدبایدله دنیاسره دویني قدرتعلق وي چي شرعاً دي اړتیاورته لري اوفقط دده هغه جدي حاجتونه په پوره کیږي کوم چي دَيْ ورته اړوي،

دریم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفت تجريددی، مريدبايدمجردوي په دې معنی چې هغه ټولی علاقې اوتعلقات پرې کړي اوځان ورڅخه وژغوري کوم چې شرعاًدهغې علاقي اوتعلق په مراعت کولوسره دَيْ مکلف نه وي او داالله جل جلاله په لارکښي چې دسلوک اودطريقت لارده دَيْ له ترقۍ اوله پرمختګ څخه راګرزه وي، لکه الله جل جلاله چې فرمايلي دي

)اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِکُمْ واولادکم عَدُوَّالَّکُ ْمْ فَاحْذَرُوْهُمْ (

يعني بېشکه له ښځوستاسوڅخه اوله اولادوستاسوڅخه سته دښمنان تاسي لره نووويرېږی له دوی څخه يعني ستاسوپه ښځواواولا دوکښي داسي ښځي اواولادونه هم پيداکيږي چې ددوی مراعت اوتعلق تاسي داالله جل جلاله اودهغه درسول(صلی الله عليه وسلم)په مخالفت کښي اچوي نوپه دې وجه دوی‌ستاسي دښمنان

دي نوبايدله دوی‌څخه وويرېږی اوځانونه ورڅخه وساتی،

څلورم

صفت عقيده ده،دمريدبايدعقيده برابره وي مريدبايدهغسي عقيده ولري کومه چې داهل السنت والجماعت له مسيرسره توافق لري اودڅلورواامامانو له تګلاري سره مطابقه وي،مريدبايدله هغوټولوعقيدوڅخه پاک وي کومي چې داهل ا لسنت والجماعت دڅلورواامامانودمسلک مخالفي دي،

محترمواسلامي ورونړوپه تېره برخه کښي ماوتاسي ته ددې خبري ذکرکړي ؤچې دطريقت اودسلوک په لاره کښي چې څوک سيراوسلوک کوي اومُريدوي نودغه مريدبايدپه شلوصفتوسره موصوف وي چې دهمدغوشلوصفتوله جملې څخه څلورصفتونه ماپه تېره برخه کښي درته بيان کړل په دغه برخه کښي له مذکوروصفتوڅخه يوتعدادنورصفتونه درته ذکرکوم چې بيان يې په دې ډول دی

پنځم له دغوشلو صفتوڅخه تقوي ده مريدبايدپرهيزګاراوله الله جل جلاله څخه وېرېدونکی وي اوله حراماواوشبهَناکو شيانوڅخه بايدمُجْتنِبْ وي په خوراک اوڅښاک اولباس اوجامه کښي بايد مُحتاط وي خوالبته په احتياط کښي له مبالغې اوله افراط څخه هم بايدکاروانخلي ځکه چې بيادوسواس په مرض اخته کيږي اوترڅوچې يې طاقت وي په عزيمت بايدعمل کونکی وي نه په رخصت ،اودطَهارت اودنِظافت بايدپوره خيال ساتي، مګرپه دې باره کښي هم بايدافراط ونکړي چې دوسوسي په مرض مبتلا نسي ،اودارنګه په ټولواحوالوکښي داسلام دپيغمبر صلی الله عليه وسلم دغه هدايت بايد نصب ا لعين وګرځوي چې( دَعْ مايُرِيْبُکَ الی مالايريبک)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږمله دغوشلوصفتوڅخه چي دمريددپاره ضروردي صبردی،په شريعت کښي صبرپردرې قسمه دی،اول صبرپرطاعت اوعبادت داالله تعالی باندي، دوهم صبرله معصيت اوله گناؤ څخه،دريم صبرپرمصېبتوباندي، په مريدکښي بايددغه درې سره قسمونه دصبرموجودوي، اوله دې سره سره مريدبايد دهغوټولوتقييداتواوپابنديوپرتابعداري باندي صبروکړي کومي چي دشيخ اومرشدله لوري وده ته په هغوی سره امرکيږي اوله شريعت سره موافقت لري،او که په يوه مرحله کښي په اساني سره صبرکول ورته گران سي نوله تصبرڅخه دي کاراخلي اوپه تکلف سره دي صبرکوي چي په نتيجه کښي الله جل جلاله وده ته دصبرتوفيق ورکړي لکه چي داسلام پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي (من تَصَبَّرَصَبرّهُ الله)

اوم له دغوصفتوڅخه مجاهده ده مريدبايدهميشه په جهادحقيقي ،جهادکامِل اوپه جهاداکبرکښي کوم چي عبارت دی له مخالفت څخه

دخواهشاتودنفس اودشيطان مصروف وي ځکه چي نفس ترڅوچي دده دخواهش مطابق رفتارنه کيږي نودَيْ دډيرکمزوري وړي زمري په مثال دی چي په دغه وخت کښي دَيْ ددي توان نلري چي تاپه هلاکت کښي واچوي اوکله چي دده دخواهشاتوتابعداري وکړه سي نوبيا دي ديوه زوروراوچاغ زمري په مثال گرځي اوستاپرهلاکولوباندي قدرت پيداکوي اوهلاکوي دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځما معززو اسلامي ورڼو ! د تصوف او عرفان په تیرو دوو برخو کښي ما وتاسي ته د هغو شلو صفتو له جملې څخه کوم چي د مُرید دپاره ضرور دي اوه ۷ صفتونه بیان کړل ، اوس په دې برخه کښي د همدغو شلو صفتو له جملې څخه یو تعداد نور صفتونه درته ذکر کوم ، چي په دې شرحه دي:

)۸ (صفت شجاعت دئ :

د مُرید دپاره په طریقت او شریعت کښي اتم صفت کوم چي په ده کښي باید موجود وي دادئ چي مُرید به شجاعت او دلاوري لري ، مُرید باید مردانه او دلیر وي ، تر څو چي دَی و کولاۍ سي چي له خپل نفس او شیاطین الجن والانس سره په میړانه مقابله وکړي او همیشه د دوی په مخالفت کښي واقع وي .

)۹ (صفت بَذَل دئ :

مُرید باید جوّاد ، سخي او شندونکئ د مال وي په حقو لارو کښي ؛ ځکه چي یو خو سخاوت د اسلام د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم ) له عمده صفاتو څخه دئ ، او دارنګه د اسلام د مقدس دین له نظره سخاوت د مسلمان دپاره ډیر عظیم صفت دئ او و الله (جل جلاله) ته د تقرب او نزدیکت لویه وسیله ده ، او بل د طریقت په لاره کښي د مُرید دپاره د پر مختللو لوی عامل دئ ، او له دې سره سره بُخل د الله پاک په لاره کښي د پرمختللو ډیر لوی عائق او مانع دئ .

د اسلام پیغمبر فرمایلي دي : � السخي قریبٌ مِنَ اللهِ قریبٌ مِنَ الجنةِ بعیدٌ مِنَ النارِ ، والبخیل بعیدٌ مِنَ اللهِ بعیدٌ مِنَ الجنةِ قریبٌ منَ النارِ � ( مشکوة وغیره ) .

)۱۰ (صفت فتوّت دئ :

فتوت و جوانمردي ته ویل کیږي ، مُرید باید جوانمرد وي ، په دې ډول چي و هر چا ته پخپله درجه کښي ګوري او و هر حقدار ته خپل حق ورکوي او له نورو څخه د حقګذارۍ طلبدار نه وي ، او د الله تعالی په دې قول چي :� وآت کل ذي حق حقه � او دارنګه د اسلام د پیغمبر په دغو ارشاداتو چي :� کلّم الناسَ علی قدرِ عقولِهِم � او � و أنزلِ الناسَ منازلَهُم � باندي عمل کونکئ وي .

)۱۱ ( صفت صدق دئ :

مُرید باید صادق وي ، د مُرید ټولي معاملې که له خدائ سره وي او که د خدائ له مخلوق سره وي باید پر صداقت بِنا وي ، او همېشه یې باید داسلام د پیغمبر دغه هدایت نصب العین ګرځولئ وي چي : � الصدقُ ینجِي و الکَذِب یُهلِک . �

)۱۲ ( صفت علم دئ :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مُرید باید په هغه اندازه دیني عِلم حاصل کړئ وي کوم چي دَی ضرورت ورته لري ؛ ځکه د ضرورت په اندازه ددین علم ایزده کول پر هر مسلمان باندي فرض دئ .

امام أعظم أبو حنیفه (رحمه الله تعالی ) چي د کومو أحادیثو روایت کړئ دئ د هغوی له جملې څخه ( لکه چي طحطاوي ذکر کړیدي ) یو حدیث دادئ چي :� طلب العلم فریضة علی کل مسلم . �

)۱۳ ( صفت نیاز دئ :

مُرید باید نیاز او عاجزي ولري ، په هیڅ حالت کښي باید عجز ، تواضع او تذلُل په دې شرط چي د الله (جل جلاله) دپاره وي له لاسه ورنکړي او د اسلام د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) و دغه مبارک حدیث ته ځیر وي چي : � مَن تواضعَ لِلهِ رَفعَهُ اللهُ. �

محترمووروڼو دهغوشلوصفتوله جملې څخه کوم چي په طریقت کښې دمریددپاره ضروردي دتصوف اوعرفان په تېروبرخوکښي دیارلس صفتونه ماوتاسي ته بیان کړل اوس دهمدغوشلوصفتوله جملې څخه وځینونوروصفتوته گورئ،چی په دې ډول دی

)۱۴ (صفت عَیَّارِي دئ،

ددغه صفت مقصددادئ چي مریدبایدخپل ځان ناچیز وشمیري اوپه لااباله توگه بایدخپل ځان ته همېشه کتونکئ وي ،اوله فروتنئ څخه ډک وي، لکه چي یوبزرگ په فارسي نظم کښي فرمایلي دي،

درعشق یاربین که چوعیّارمیرویم سرزیرپانهاده چوشطّارمیـــرویم

درنقطهء مرادبدین دورما رســـیم زیرابسرهمیشه چوپرکارمیرویم

جانرافداي یارگرانمایه کرده ایــــم ورحکم میکندبسردارمیـــــــرویم

مرگ ارکسي بجان بفروشدهمیخریم عیار وار زانکه بریارمیرویم

ماراچه غم زدوزخ وباخلدمان چکار دلداده ایم مابردلدارمیرویم

)۱۵ (صفت ملامتیاده،

په دې معنی چي مریدبایدپه دې ډول وي چي نام اوننگ،مدح اوذم ،رداوقبول دخلگودده په نزد یوشان وي،نه بایددنامه اودشهرت خواهشمندوي اونه بایدددې فکراوسوچ ورسره وي چي خلگ زماښه وایي اوکه بدوایي اوپه خلگوکښي زه مقبول یم اوکه نامقبول یم اونه بایدپه دې باک اوپروا کونکئ وي چي خلگ له ماسره دوستي کوي اوکه دښمني کوي،بد راته وایي اوکه ښه راته وایي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)١٦ (صفت عقل دئ،

مريدبايدعقل مندوي اوپه هرباب کښي له هوشيارئ اوبيدارئ څخه کاراخستونکئ وي،اوپه مقتضی دعقل عمل کوي خصوصا دخپل استادپيراومرشدپه باره کښي

)١٧ (صفت ا دب دئ،

مريدبايدادبناک وي اوخاونددښواخلاقووي خصوصاً له خپل شيخ اواستادسره بايدله لوی ادب څخه کاراخستونکئ وي،اوپه ظاهراوپه باطن کښي دخپل شيخ واشاراتوته متوجه وي،اوکه شيخ وده ته دده پرتقصيراتوباندي کومه تنبيه ورکړي نودفعتاً بايددخپل شيخ له تنبيه سره سم دخپلوتقصيراتواصلاح وکړي،اوپه دې باب کښي بايدله هرقسم تعلل،حجت ګويي اوبهانه جويي څخه ډډه کونکئ وي،

مولاناروم صاحب دادب په باب کښي فرمايلي دي ،

ازخـــــــداخواهيم توفيق ادب بي ادب محروم ماندازلـــــطــف رب

بي ادب تنهانه خودراداشت بد بلکي آتش درهمه آفـــــــــــــــاق زد

هـــــــرچه برماآيدازظلمات غم آن زبـــــي باکي وګستاخي است هـم

همدارنګه يوبل بزرګ فرمايلي دي

حافظاعلم و ادب ورزکه درحضرت شاه هرکرانيست ادب لائق خدمت نبود،

محترمواسلامي وروڼودتصوف اوعرفان په دې برخه کښي دمريددشلوصفتوله جملې څخه داتلسم او نولسم اوشلم صفت بيان درته کوم اوداولسوصفتوبيانونه مي په تېروبرخوکښي درته کړيدي،

)١٨ (صفت حسن خلق دئ :

مريدبايدښه اخلاق ولري اوله تکبر،تفاخراوله عجب اوله جاه طلبۍ څخه اجتناب کونکې وي له خپلوملګرو اوله هرچاسره بايدپه ښواخلاقوګذاره کوي،داسلام په مقدس دين کښي ښه اخلاق په ډېره لوړه کچه اهميت اوارزښت لري،داسلام پيغمبر صلی الله عليه وسلم په يوه حديث کښي کوم چي په مشکوة وغيره کښي ذکرسويدئ فرمايلي دي

)ان من احبکم الي واقربکم مني مجلسايوم القيامة احاسنکم اخلاقا(

اوبالمقابل بداخلاق داسلام دمقدس دين له نظره ددنيا اوآخرت ددناکامي اوبدبختۍ ډيرغټ سببونه دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹) صفت تسلیم دئ :

مُریدبایدو خپل مرشداواستاذته ظاهراًاوباطناً خپل واک اواختیاروسپاري ، خوپه دې شرط چي استاذ اومرشدېې واقعاًمرشدوي کامل اومکمل وي،ځکه اوناقص نه وی ځکه له ناقص استاذ څخه اخذ او تعلم د طریقت له مخي داسي مثال لري لکه له شیطان څخه چي دعلم اخذکوي

مولانارومی صاحب فرمایلي دي :

چون بسي ابلیس آدم روي هست ــ پس به هر دستی نباید داد دست

زانکه صیاد میزند بانگ صـــفیر ــ تا بگیـــــرد مرغ را آن مرغ گیر

حرف درویشان بدزدَد مَرد دون ـــ تا بگوید بر ســلیمی آن فسون .

او دارنگه د طریقت علماؤ فرمایلي دي چي مُرید به و مُرشِد کامِل مُکمِّل ته داسي تسلیم وي لکه مُرده چي و غسل ورکونکي ته تسلیم وي .

۲۰) صفت تفویض دئ :

مُرید باید په مقتضی ددې قول د خدائ پاک چي � وأُفَوِّضُ أمرِي الی اللهِ اِنَّ اللهَ بصیرٌ بالعِباد � خپل ټول کارونه و الله (جل جلاله ) ته وسپاري ، لکه چي یوه بزرگ فرمایلي دي:

وکلت الی المحبوب امري کله ــ فان شاءاحیاني وانشاءاتلفا

اولکه چي یوبل بزرگ فرمایلي دي

بگذاشته ام مصلحت خویش بدو ــ گربکشد ورزنده کنداوداند

تادل رقم عشق برجان دارد ــ باران بلابرسردل مېبارد

جانابسرت کزتونگردانم روي ــ گرعشق هزارازین برویم آرد،والسلام

قدرمنووروڼوکوم څه چي زه په دغه اوپه راتلونکو برخه کښي درته لیکم نوباعث پرهغه باندي داشئ دئ چي له ځینوویب سایټو څخه زماځیني بیانونه کوم چي دتصوف اوعرفان په اړه دي بعضوعربي مواقعو او ویب سایتو کوم چي وعراق اووغیره ته منسوب دي نقل کړیدي اوبیاېې داخبره زیربحث گرځولې ده چي دافغانستان یونامتوعالم مولانامحمدمعین الدین ابوالفضل په رسمی مواقعوکښي دتصوف مدح، صفت اوبیان کوي اوپه دې باره کښي ډیروعربوعلماووخپل نظرونه ورکړیدي چي په هغوی کښي اکثر مثبت نظرونه دي که څه هم زیات

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغواکثروعلماوو سلفیان دي، اوصرف دوویادرو سلفی عالمانو منفی نظرورکړیدئ خوددغوعلماوودنظرو په اول سرخط کښي چي کوم بیان په مذکورووېب سایتوکښي ذکرسویدی دهغه معنی اومطلب په دې ډول دئ :

نن ورځ مي په ځینورسمي مواقعوکښي ولیدل چي مولامعین الدین ابوالفضل دتصوف مدحه کوي ، دغه رباني عالِم د تصوف په اړه وخلګو ته بیانونه ورکوي او د تصوف له اهمیت څخه بحث کوي ، د مولانا معین الدین له دغو بیاناتو څخه دا خبره څرګنده سوه چي کومه اوازه چي ځموږ د عربو په منځ کښي خپره سوېده چي د افغانستان عالمان او طالبان له تصوف څخه منکر دي او د سلفیت عقیده لري دروغ او بې اساسه ده ، بلکي د افغانستان عالمان او طالبان اهل د تصوف حقیقي دي او ددین د دښمنانو په مقابل کښي په شجاعتمنده او صادقانه توګه جنګیږي .

او ځینو عمده عالمانو د دوی داسي نظر ورکړئ دئ چي په اسلام کښي چي کوم نامتو او باشجاعته مجاهدین تیر سویدي نو هغه ټول متصوفین وو ، لکه عثمانیه سلاطین ، صلاح الدین ایوبي ، محمود غزنوي او لکه عمر مختار وغیرهم .

ــــ ما چي د دوی نظرونه ټول وکتل نو و درو خبرو ته ډیر سخت حیران او په تعجب کښي پاته سوم :

اول ودې خبري ته چي په موجوده زمانه کښي پداسي حساسو او نازکو حالاتو کښي چي د دنیا ټول کافران سره له دې چي دوی په خپل مابین کښي زیات پریکړنونه ، عداوتونه او اختلاف د نظر سره لري د مسلمانانو په مقابل کښي یو صف او متحد ملت ګرځیدلي دي ،او مسلمانان ( پر ځائ ددې باند چي له مذهبي تعصباتو څخه لاس واخلي او خپل جزئي او فرعي اختلافات غیر ملتفت الیها وګرځوي او د کفارو په مقابل کښي ودریږي او له اسلام څخه دفاع وکړي ) نور هم په مذهبي تعصب کښي تشدد او ټینګار کوي او د کفر تر دفاع یې ودغه کار ته اهمیت ورکړئ دئ .

دوهم ودې خبري ته چي د فغانستان مسلمان ملت ، خاص بیا د افغانستان عالمان او طالبان د امام اعظم ابو حنیفه (رضي الله عنه ) مذهبیان دي او په علم عقاید کښي د عَلَم الهُدی امام ابو منصور ماتریدي ( رحمه الله تعالی ) پیروان دي ، نو بیابه په دوی کښي داسي خلګ څنګه پیدا سي چي هغوی دي له تصوف څخه انکار کوي ؛ ځکه له تصوف څخه انکار له حنفیت او ماتریدیت څخه په قطعي ډول خارجیدل دي .

دریم ودې خبري ته چي د تصوف مطلب زهد او تزکیه ده ، یعني له ناروا خویو څخه ، لکه کبر ، حسد ، فخر ، بخل وغیره ځان پاکول ، او تحلیه یعني په ښو اخلاقو سره ځان ښایسته کول دي .

نو که څوک دا ډول عقیده ولري چي العیاذبالله تصوف داسلام یو جزء نه دئ نو دا عقیده یې دې لره مستلزمه ده چي په اسلام کښي زهد نسته ، په اسلام کښي دانسته چي له بدو اخلاقو به ځان صفا کوې او په ښو اخلاقو به ځان ښایسته کوې ، سره له دې چي الله پاک فرمایلي دي :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



�قد افلَحَ مَـــن زكّها و قـــد خابَ مَـــن دسها . �

او سربيره پر دې پر اهل تصوف باندي طعن ويل دمسلمانانو پر څلورو امامانو باندي او دارنګه پر هغو ټولو مخکښو علماؤ باندي طعن ويل دي کوم چي د هغوی له امامت او جلالت د شان څخه منکرين د تصوف او د اهل تصوف هم انکار نه سي کولای .

په راتلونکو برخو کښي به زه انشآءالله و تاسي ته د څلورو امامانو او دارنګه د عالم اسلام په منځ کښي د مسلمو علماؤ ، لکه امام نووي ، امام عز بن عبدالسلام ، علامه سيد شريف الجرجاني ، شيخ محمد ابو زهره ، امام محاسِبي وغيرهم نظرونه او بيانونه د تصوف او د اهل تصوف په باره کښي ذکر کړم.

محترموورونو اوس دامت مسلمه دهغوامامانواوعالمانوکوم چي دتمام امت مسلمه مخکښان اووټول امت مسلمه ته مقبول دي داقوالو په ذکرپيل درته کوم هغه قولونه ددوی چي دتصوف په اړه يې کړيدي

دڅلورواماموقولونه دمخه هم ما درته ذکرکړيوو اوس بې بيا انشاءالله ددغواقوالودجريان په اخيرکښي دهريوه قول درته ذکرکړم .

دتصوف په اړه دامت مسلمه دعلماووقولونه په دې شرحه دي:

اول : امام النووي، المتوفى سنة( ٦٧٦ )هجري ( رحمه الله تعالى ) .

محترمووروڼوامام نووي هغه عالم دئ کوم چي وټول امت مسلمه ته مُسَلم اومقبول عالم دئ اودصحيح مسلم شارح دئ حتی هغه خلګ هم کوم چي دتصوف دښمنان دي امام نووي په هراعتبار تسليموي اومني يې،،دتصوف په اړه ده په خپله رساله کښي کومه چي په � مقاصدالامام النووي في التوحيد والعبادة واصول التصوف � سره نامداره سوېده داسي فرمايلي دي:

اصول طريق التصوف خمسة،(١) تقوالله في السروالعلانية،(٢) اتباع السنة في الاقوال والافعال (٣) الاعراض عن الخلق في الاقبال والادبار(۴)الرضاعن الله في القليل والكثير(٥)الرجوع الى الله في السراء والضراء .

يعني دتصوف دطريقې اودلاري ټول بنيادي اصول اواساسات پنځه شيان دي :

)١ : ( تقوی اوويره له الله جل جلاله څخه په پټه اوپه ښکاره کښي،يعني هرڅوک چي له تصوف سره رښتونئ تعلق لري نوهغه به له الله جل جلاله څخه ويرېږي اودغه وېره بې په دې ډول وي چي که تنها اويوازي وي هم له الله جل جلاله څخه به وېرېږي اوکه په خلګوکښي وي هم له الله جل جلاله څخه به ويرېږي .

)٢ : ( اصل اواساس دتصوف اتباع دسنت درسول عليه السلام ده په ټولوقولواوپه ټولوفعلوکښی دده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني تصوف خلګ ودې ته رابولي چي خپلي خبري او لفظونه او خپل ټول کارونه د رسول (صلوات الله عليه واله وصحبه اجمعين ) د سنت او طريقې تابع وګرځوي .

)٣ : ( اصل او اساس د تصوف اعراض او مخ اړول دي له مخلوق څخه په حال د اِقبال او د اِدبَار د دواړو کښي .

يعني هر څوک چي له تصوف سره واقعي تعلق ولري نو هغه به و خلګو ته هيڅ اسره نکوي او نه به هغه قسم ګډون او اختلاط له خلګو سره کوي کوم چي دَی له الله (جل جلاله ) څخه په غفلت کښي اچوي ، بلکي په کامله توګه به و الله تعالی ته متوجه وي ، او دا صفت به په هر حال کښي وده ته ثابت وي ، هم په حال د �اِقبال � او د مخامخ کيدو کښي له خلګو سره او هم په حال د � اِدبَار � کښي يعني په حال کښي د شا ګرځولو وخلګو ته .

)۴ ( اصل او اساس د تصوف راضي کيدل دي له الله (جل جلاله) څخه په لږ او په ډير په دواړو کښي .

يعني څوک چي مدعي د تعلق د تصوف وي نو په ده کښي به دا صفت موجود وي چي له الله جل جلاله څخه به په هغه حال کښي هم راضي وي چي کم شئ وده ته ورکړ سي ، مثلاً مال يې کم وي ، اولاد يې کم وي ، عزت يې کم وي او رتبه يې کمه وي ، اوپه هغه حال کښي به هم راضي وي چي ډير شئ ورکړ سي .

)۵ : ( اصل او اساس د تصوف رجوع ده و الله (جل جلاله ) ته په خوشحالي او په راحت کښي ، او دارنګه په تکليف ، مرض او مصيبت کښي .

يعني متصوِّف انسان به په هيڅ حالت کښي د الله ( جل جلاله ) په تعلق ، عبادت او بندګي کښي سستي او کمزوري نکوي ، نه بې خوشحالي ، اسايش او راحت د الله پاک له بندګۍ څخه راګرځوي ، او نه به مصيبت ، غم او تکليف و ده ته ددې باعث ګرځي چي د الله پاک په بندګي کښي تکاسل او تغافل وکړي .

محترمو مسلمانانو ! د اسلامي أمت ددغه ستر امام قول او نظر مى کوم چي د تصوف په اړه يې کړئ دئ درته بيان کړ ، نو اوس قضاوت او فيصله تاسي وکړۍ چي د تصوف مقصد دغه پنځه شيان سي لکه چي امام نووي فرمايلي دي ، او سره له دې يو څوک له تصوف څخه انکار کوي يا بد پر وايي ، نو ايا ! دغه انکار او بد ويل بې په حقيقت کښي دا معنی ونلري چي : په پټه او ښکاره کښي له الله څخه ويره ښه کار نه دئ ، او دارنګه متابعت د رسول (عليه السلام ) ښه کار نه دئ ، دارنګه العياذ بالله په هر حال کښي و الله (جل جلاله ) ته راجع کيدل ښه کار نه دئ ؟ .

او چي دا معنی ولري نو بيا و دغو خلګو ته په کومه سترګه بايد وکتل سي کوم چي له تصوف او له اهل تصوف څخه انکار کوي او بد پر وايي ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنبیه :

محترمو ورونو ! دلته د یوې خبرې ذکر کول ضروري ګڼم هغه داده چې کوم تصوف چې زه یې مدح او صفت درته کوم ، او دارنګه کوم اهل تصوف چې زئې تائید کوم او پر منکرینو باندې یې بد وایم له دې څخه څما مقصود صحیح او حقیقي تصوف او اهل تصوف دي ، پاته سوه هغه خلګ چې په ټګۍ برګۍ او په دروغو سره و تصوف ته خپل ځانونه منسوبوي او ددې ادعا کوي چې موږ اهل طریقت یو او خود ساخته رویې او طریقې یې په مخه پسې اخستي دي ، چې له ظاهر او باطن د شریعت څخه مخالفې دي ، لکه په موجوده زمانه کښې چې په هر اسلامي هیواد کښې دغه قسم ټګان موجود دي ، نو دا نه زه اهل تصوف او اهل طریقت بولم او نه له دوی څخه دفاع کوم .

دشریعت په علماؤ کښې هم علماَء سوء ، علماَء باطل او عُلماَء دنیا پیدا کیږي ، او و طریقت ته چې کوم خلګ ځانونه منسوب بولي په هغوی کښې هم دغه ډول بد خلګ پیدا کیږي ، دا هغه خلګ دي چې د دوی په باره کښې مولانا جلال الدین رومي (رحمه الله تعالی ) فرمایلي دي :

چـــون بسي ابـــلیس آدم روي هـــــــســـــــت

پس بـــــه هــــر دَســـتِې نبـــاید داد دســـــت

حَــــــرف درویشـــان بدُزدد مــــردِ دون

تـــا بگـــــوید بر ســـــــلیـــــمي آن فـــسون

زانــــــکه صـــــیاد میزند بــــــانگِ صفـــیر

تا بگـــــیرد مـــــرغ را آن مـــــــــرغ گـــــیر.

والسلام ومن الله التوفیق

Download from: ketabton.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library